# بُت شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

اسد، 1405 هـ.ش - صَفَر، 1448 هـ.ق



یو ځل بیا څو صهیونستان

## له مبارکې کورنۍ څخه یوه مبارک سړي ووژل

# د قربانیو نظام

مونـږ راوسـتی سـپین نظـام پـه قربانیـو
مونـږه ولمانځـل پـه شـوق دا شـل کلونـه
لــه عمــر، عــثمان، علي نــه راشروع دی
کیــږي څوارلــس ســوه کالــه راروان دی
زړونه مات نه کړئ د ننګ او جنګ ملګرو
دا د نــن او د پــرون خبرې نــه دي
شــهادت عظیــم مقــام څــه ټوکــې نــه دي
«فیضــاني» دا قربانــۍ زمونــږ میراث دی

دا به ســاتو تــل مــدام پــــه قربانیو
هــر ســــهار او هــر مــاښام پــه قربانیــو
دا مــسیر او ســپین مــرام پــه قربانیــو
غیــرتي دیــن پــاک اسلام پــه قربانیــو
ځــو بــه وړانــدې ګام پــر ګام پــه قربانیــو
مونــږ پاللــی هــر قیـــام پــه قربانیــو
ګټــل کیــږي یــې خــوږ جــام پــه قربانیــو
مختـــه وړو د دیــن پیغــام پــه قربانیــو

فیضاني



بسم الله الرحمن الرحيم

## مهم موضوعات


رښتيني امريکايي 09

په جګړه کې د ایډیالوژۍ اهمیت.... 15

د بې نظمه کابل پر وړاندې د خلکو او دولت مسؤولیت 18

په شام کې د جهاد راتلونکی - څلورمه برخه 22

په مرميو باندې مينه کړئ! 31

دا غزه ده؛ دلته جګړه د ځمکو لپاره نه، د بقا لپاره روانه ده 35



### اداري پلاوی

مسؤول مدير:

حسن ابراهيم زی

غړي:

بشير قريشي

مولوي سعد طارق

حافظ خالد سعيد دراني

ډاکټر محمد طنين

اول ګل زاهد



### زمونږ سره رابطه

ایمېل آدرس:

tamas@butshikan.com

ټلګرام رابطه:

tamas_butshikan

ويب سايټ:

butshikan.com

مونږ په ټولنيزو رسنيو وڅارئ:

ButShikan1404


يادونه: په دې مجله کې د قرآن کريم مبارک آيتونه، احاديث او سپېڅلي کلمې شته، په نامناسب ځای کې يې مه پرېږدئ!

# لړلیک

سرمقاله
په طوفان الاقصی کې د ګډون لپاره، غزه شرط نه ده! ........ 5

قد افلح من تزکی
د ژبې له بد کارولو او بدګمانۍ ځخه ځان وساتئ! ........ 6

زما تګلاره
رښتینی امریکایي ........ 9
که سپوږمۍ شوله ناوخته، لاره نه رانه ورکیږي ........ 12
په جګړه کې د ایډیالوژۍ اهمیت او د الله تعالی د حاکمیت لپاره د جګړې ستراتیژیکه اړتیا ........ 15

افغانستان او امت
د بې نظمه کابل پر وړاندې د خلکو او دولت مسؤولیت ........ 18
په شام کې د جهاد راتلونکی - څلورمه برخه ........ 22
په مرمیو باندې مینه کرئ! ........ 31

طوفان الاقصی
دا غزه ده؛ دلته جګړه د ځکو لپاره نه، د بقا لپاره روانه ده ........ 35

ابدي ژوندي
د شاهي کوټ د معرکې اتل او د مهاجرو مجاهدینو انصار، شهید ملا سیف الرحمن منصور ........ 46

مختلف مضامین
د امریکا په هکله دوه اقوال ........ 11
د درود شریف ویلو ځینې ښېګڼې او کرامات ........ 14
یو کلنه پاچاهي او د راتلونکي تیاري ........ 29
انقلابي حکومت باید انقلابي پرېکړې وکړي ........ 45

# په طوفان الاقصی کې د ګډون لپاره، غزه شرط نه ده!

شیخ فاروق رمضان له غزې څخه ډېر لرې په غربي ترانګه کې اوسېده، د هغه له غیرت او شجاعت څخه ښکارېږي چې که یې په لاس کې اسلحه وای نو به پخوا د طوفان الاقصی د مبارکې قافلې سره یوځای او په یهودي اشغالګرو باندې به یې خپله سینه یخه کړې وای، خو هغه د موقع په لټه و، چې بالآخره د تېرې عیسوي میاشتې (جولای) په ۲۴ نېټه له یهودي اشغالګرو سره لاس او ګرېوان شو، له هغوی څخه یې ټوپک واخیست او بیا یې په خپل ټوپک دوه تنه اشغالګر صهیونستان ووژل، خپله هم په همدې عملیاتو کې شهید شو. (انا لله و انا الیه راجعون)

لومړی خو دغه مبارک عملیات د شیخ فاروق لپاره یو غټ فرصت او غنیمت شو، څو په همدې لاره باندې ځان تر جنت ورسوي، ځکه زموږ ریښتیني پیغمبر صلی الله علیه وسلم په یوه روایت کې چې مسلم، ابو داود، او احمد روایت کړی دی فرمایلي دي چې کافر او د هغه (مسلمان) قاتل په اور کې نه سره یوځای کېږي. یعني څوک چې یو کافر قتل کړي په جهنم کې به نه ورسره یوځای کېږي او جنت ته به ځي. دوهم دا چې په دې مبارکو عملیاتو یې د امت سترګې یخې کړې، د کفارو زړونه یې ودردول او هغوی یې وویرول.

له الله تعالی غواړو چې نور امت ته هم د دغه ډول مبارکو عملیاتو وس، توان او توفیق ورکړي، آمین.

دغو مبارکو عملیاتو د بصیرت د خاوندانو او ټولو مسلمانانو لپاره څو ځانګړي پیغامونه پرېښودل، له هغو څخه یو همدا دی چې که څوک غواړي د طوفان الاقصی په دې مبارکه قافله کې چې منزل یې جنت دی ګډون وکړي، نو د هغوی لپاره دا شرط نه ده چې باید خپل ځانونه تر غزې ورسوي، لکه نن چې ځینو خلکو دا بهانه پیدا کړې چې ګواکې غزې ته د تلو لاره نشته ده، نو چېرې چې هم صهیونستان پیدا کېږي او چېرې چې هم د هغوی ګټې پیدا کېږي هماغه ځای د طوفان الاقصی د مبارکو عملیاتو د غځولو لپاره تر ټولو مناسب دی. البته که د کوم شرعي عذر له امله په عملي قتال کې برخه نشو اخیستلی، نو په لسګونو نورې طریقې هم شته چې د طوفان الاقصی عملیات تقویه کوي، لکه تمویل، ښې مشورې، د دښمن ترصد، دعوت او اعلامي خدمت، مخلصانه دعاګانې، د دښمن سره اقتصادي پرېکون او داسې نورې لارې شته.

دا ډول استشهادي او زړور عملیات بې مخینې نه دي بلکې په اسلامي تاریخ کې یې هر ځای بېلګې پیدا کېږي، په ځینو ځایونو کې د ګمنامو او یوازې مجاهدینو په لاس د اسلام ډېر لوی لوی دښمنان له منځه وړل شوي دي او په ځینو ځایونو کې همدې ډول عملیاتو د تاریخ یو جلا باب پرانیستی دی. د مثال په ډول یوه مشهوره واقعه چې د سیرت په ټولو کتابونو کې شته هغه په یمن کې د یوه دروغجن پیغمبر (الاسود العنسي) راښکاره کېدل و، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه لږ وخت مخکې د یوه تن بې لښکره قهرمان مجاهد حضرت فیروز رضي الله عنه په لاس په یوه چریکي حمله کې د خپل کور دننه ووژل شو، امام طبري لیکي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغه د وژل کېدو خبر د وحی په واسطه وشو، نو حضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «العنسي وژل شوی دی، هغه له مبارکې کورنۍ څخه یوه مبارک سړي وژلی دی.»

موږ په شیخ فاروق رمضان هم دا یقین لرو چې ان شاء الله هغه بریالی شوی دی او په خپلو مبارکو عملیاتو یې ثابته کړه چې د طوفان الاقصی عملیات یوازې په غزه کې نه پاتې کېږي، بلکې دا عملیات به لکه د اوس په شان، بیا بیا هم تر غربي ترانګې او له هغه څخه وروسته د نړۍ نورو برخو ته غځېږي. صهیونستانو چې زموږ له مسلمان امت او مقدساتو سره کوم ظلمونه او وحشتونه ترسره کړي دي، دا به بې ځوابه نه پاتې کېږي بلکې ټول صهیونستان به یې پور پرې کوي، تر دې چې ونې او ډبرې به هم د هغوی په له منځه تللو باندې شاهدي ورکړي. (ان شاء الله)

الله تعالی ته دعا کوو چې دا عملیات وروستي نشي، بلکې زموږ د سرونو، هډونو او وینو په واسطه د جهاد دا قافله روانه وساتي. آمین

# د ژبې له بد کارولو او بدګمانۍ څخه ځان وساتئ!

حضرت مفتي پیر سید مختارالدین شاه نوّر الله مرقده

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا (بنی اسرائیل: ۵۳)

«او تاسي (مسلمانانو) بندګانو ته ووایاست چې داسې خبره کوي چې هغه تر ټولو غوره وي، ځکه شیطان د خلکو ترمنځ فساد اچوي. په رښتیا سره شیطان د انسان ښکاره دښمن دی.» (بیان القرآن)

ما تاسې ته مخکې هم یو ځل دا خبره عرض کړې وه چې د ډېرو فتنو او جګړو لامل بدزباني او بدګماني وي (په پورته ذکر شوي ایت کې) الله تعالی فرمایي: اې پیغمبره! زما بندګانو ته ووایه چې هغوی هغه خبره وکړي چې تر ټولو غوره وي، ځکه شیطان په یقین سره هغوی په خپل منځ کې جنګوي، بې شکه چې شیطان د انسان ښکاره دښمن دی.

د ژبې ساتنه خورا زیاته اړینه او ضروري ده. نبي کریم ﷺ فرمایي:

«بده ژبه چې په هر څه کې چې شامله شي، هغه بدرنګه کوي. (او د دې خلاف) حیا چې په هر څه کې چې شامله شي، هغه خوش نما او ښکلې کوي. » (رواه الترمذي کتاب البر والصلة (۱۸/۲))

د بدې ژبې په پرتله، ښه ژبه یعني ښې خبرې کول خپل یو مقام او خپل یو اغېز لري، تر دې چې الله تعالی ښه خبره له هغه مالي خیرات څخه هم غوره ګرځولې ده چې تر هغه وروسته بده ژبه او د احسان اړول وي. د احسان اړولو او پېغور ورکولو په اړه، الله تعالی فرمایي:

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى (البقره: ۲۶۳)

«د ناداری پر مهال) مناسبه خبره کول او بخښنه کول، تر هغه خیرات خورا غوره دي چې ورپسې (بل ته) ازار او تکلیف رسول کېږي.» (بیان القرآن)

د صدقې او خیرات هدف دا وي چې د انسان زړه خوشحاله او ډاډه شي. خو که تاسې چاته یو څه مال ورکړئ او وروسته ورباندې پېغور ورکړئ، طعنه ورکړئ، احسان ورباندې واچوئ او هغه سپک کړئ، نو بیا تر داسې صدقې دا ډېره غوره ده چې هېڅ مال او خیرات ورنکړئ، بلکې د هغې صدقې پر ځای یوازې په مینه او ښه طریقه خبره ورسره وکړئ. هغه صدقه چې ورپسې درد او تکلیف وي، هغه ضایع او بربادېږي. بدګماني تل په زړونو کې بېلتون راولي چې دا د شیطان کار دی، ځکه شیطان د دې لارې د خلکو په زړونو کې غوسه، کینه، نفرت او د نفاق تخم شیندي. په هر حال، د ژبې ساتل خورا اړین دي. د ژبې په اړه علماء کرام فرمایي:

«جِرْمُهُ صَغِيرٌ وَجُرْمُهُ كَبِيرٌ»

«د ژبې جسامت وړوکی دی خو ګناه او جرم یې خورا لوی دی.»

ژبه د غوښې یوه وړوکې ټوټه ده چې د غاښونو تر شا پټه ده خو په دې ژبې سره پر نورو خلکو طعنې ویل کېږي... درواغ په همدې ژبه ویل کېږي... که چا ښوک ووژل او بیا د هغوی ترمنځ روغه جوړه وشوه، نو ځینې شریر او بدخواه خلک د مقتول کورنۍ ته طعنه ورکوي چې که تاسې واقعاً زړور وای، نو د خپل مقتول غچ به مو اخیستی وای. د دې خبرې په اورېدو یو ځوان راپاځي، وسله پورته کوي او د روغې جوړې سره سره یو بل ښوک وژني! اوس وګورئ چې دا جرئت او دا لوی جرم چا رامنځته کړ؟ دا هر څه ژبې وکړل. لنډه دا چې د ژبې ګناهونه او

جرمونه خورا ډېر او لوی دي، لکه: شیطانت چغلي، درواغ، غیبت او د انسانانو ترمنځ جګړې اچول او داسې نور. له همدې امله د ژبې ډېره کلکه ساتنه پکار ده. تاسې دا فکر مه کوئ چې په یوه خبره څه کېږي؟ ځکه چې د انسان د خبرې خورا لوی وزن وي. د بېلګې په توګه: که یو څوک په خپله ژبه خپلې مېرمنې ته ووایي چې «تاته مې ۳ طلاقه درکړل»، نو په دې سره سمدستي طلاق واقع کېږي او مېرمن ترې بېلیږي. یو کس تر ډېره وخته ژاړي او چیغې وهي چې «ماته واده وکړئ! ماته واده وکړئ!» بالاخره واده یې وشو او ۵ لکه روپۍ یې هم مصرف کړې. خو بیا وروسته په غوسه کې راغی او په ژبه یې وویل: «تاته مې درې طلاقه درکړل.» نو مېرمن یې ترې جلا شوه. اوس تاسې ووایاست چې په دې خبره کې څومره وزن و؟ همدا رنګه، که یو سړی د دوو شاهدانو په شتون کې بل سړي ته ووایي چې «ما خپله لور تاته په نکاح درکړه» او هغه بل سړی ورته ووایي چې «ما قبوله کړه». (اوس وګورئ، دا یوازې څو خبرې وې) خو د دې خبرو اثر څه شو؟ هغه نجلۍ د تل لپاره د دغه سړي د کور شوه او په هغه حلاله شوه.

## د لقمان حکیم رحمة الله علیه یوه واقعه

(مشهوره ده چې) د لقمان حکیم رحمه الله مالک هغه ته وویل: یوه اوزه حلاله کړه او د هغې د غوښې تر ټولو غوره او خوندوره برخه ماته راوړه! حضرت لقمان حکیم هم اوزه حلاله کړه او د خپل مالک لپاره یې د هغې ژبه راوړه. بله ورځ مالک بېرته لقمان حکیم ته وویل: بله اوزه حلاله کړه او د هغې د غوښې تر ټولو ککړه او بده برخه ماته راوړه. هغه په دویمه ورځ هم اوزه حلاله کړه او د خپل مالک حضور ته یې بیا هم همغه ژبه راوړه. مالک (حیران شو او) ورته ویې ویل: دواړه ځله دې یو شی راوړ؟ (سره له دې چې باید دواړه دې بېلابېل شیان راوړي وای، ځکه چې خواږه او ترخه یو د بل ضد دي او کله چې ضد وي نو جلا جلا به وي، او که یو ځای وي نو په دویم ځل دې ولې ژبه راوړه، په دې کې څه ځانګړې حکمت دی؟) لقمان حکیم ورته وویل: که دا ژبه ښه (او نرمه) شي، نو تر دې بله خوږ او غوره شی نشته. او که دا بده (او ترخه) شي، نو تر دې بله بده او ککړه نشته. په هر حال له بدې ژبې ځان وساتئ. بده ژبه په یو حدیث کې د نفاق نښه ګرځول شوې ده. (د نبي کریم ﷺ د مبارک فرمان مفهوم دی چې): کوم خلک چې بده ژبه کاروي، هغوی منافقان دي. نبي کریم ﷺ د منافق څلور نښې ښودلې

دي چې په هغو کې یوه دا هم بیان شوې ده: «وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ» (کله چې جګړه او بحث کوي، نو بده ژبه او ښکنځلې کاروي).

نبي کریم ﷺ فرمایي:

«مَنْ سَكَتَ نَجَا»(رواه الترمذي (۲/۷۶) کتاب في صفة القيامة: باب المؤمن يرى ذنبه)

«څوک چې خاموش پاتې شو، هغه نجات او بریا وموندله.»

په یو بل حدیث مبارک کې راغلي دي (چې مفهوم یې دی): «کوم څوک چې پر الله او د هغه پر رسول ایمان لري، هغه دې یا ښه خبره وکړي او یا دې خاموش پاتې شي.» په هر حال! زه دا غوښتنه کول غواړم چې د خپلې ژبې خورا ډېر خیال ساتئ، ځکه د ژبې زخم نه رغېږي، خو د تورې او نېزې زخم رغېږي.

## کله هم چاته پیغور مه ورکوئ

حضرت امام کسائي رحمه الله او حضرت امام یزیدي رحمه الله دواړه مشهور قاریان دي. امام کسائي رحمه الله د کوفې و. یوه ورځ د هارون الرشید رحمه الله په دربار کې امام کسائي رحمه الله د لمانځه د امامت لپاره وړاندې کړل شو، هغه لمونځ شروع کړ. غالباً د ماښام لمونځ و. امام کسائي رحمه الله چې کله سورة الکافرون تلاوت کاوه، نو په کې ونښت (یعني غلطي ترې وشوه او په کلمو کې ګیر شو، ځکه نو مجبور شو بل سورت یې تلاوت کړ). کله چې لمونځ مکمل شو او سلام یې وګرځاوه، نو امام یزیدي رحمه الله ورته وویل: «د کوفې قاري په سورة الکافرون کې ونښت.» یعني پېغور یې ورکړ. بیا (شاوخوا یو کال وروسته) د الله تعالی شان داسې شو چې امام یزیدي رحمه الله د لمانځه ورکولو لپاره وړاندې شو، کله چې هغه لمونځ شروع کړ، نو په خپله سوره الفاتحه کې ونښت (غلط شو). اوس مسئله دا ده چې که یو څوک د سورة الفاتحه څخه وروسته په کوم بل ځای کې غلط شي، نو د قرآن مجید هغه ځای پرېږدي او بل سورت لولي، لمونځ یې صحیح کېږي. خو د سورة الفاتحه متبادل نشته، ځکه چې سوره فاتحه لوستل په لمانځه کې واجب دي، له همدې امله د هغې ځای بل سورت نشي نیولی. نو کله چې هغه په سوره فاتحه کې ونښت، مجبور شو سمدستي سلام وګرځوي. څرنګه چې هغه د پاک زړه خاوند و، نو د دې غلطۍ له امله سمدستي پوه شو چې دا د هغه پېغور پایله ده (او دا د الله والاوو

نښه ده، ځکه چې هغوی معصوم نه دي، غلطي ترې کېږي، خو سمدستي پوهېږي او توبه باسي). ځکه نو د سلام ګرځولو سره سم، امام یزیدي رحمه الله دا شعر وایه:

اِحْفَظْ لِسَانَکَ لَا تَقُلْ فَتُبْتَلٰی
اِنَّ الْبَلَاءَ مُـــوَكَّلٌ بِالْمَنْـطِـقِ

«خپله ژبه وساته، زیاتې خبرې مه کوه که نه په ازمېښت کې به اخته شې، ځکه چې بلاګانې او مصیبتونه له خبرو (ژبې) سره تړلي دي.»

په حدیث شریف کې راځي:

«اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِّسَانِهِ وَيَدِهِ» (أخرجه البخاري (۶/۱) كتاب الايمان: باب أی الاسلام افضل)

«(کامل) مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان یې د ژبې او لاس له ضرر څخه خوندي وي .»

## تل له خبرو کولو وړاندې سوچ کوئ

له همدې امله، تاسې چې کله هم کومه خبره کوئ، لومړی فکر وکړئ چې دا خبره روا ده که ناروا؟ که چیرې هغه (خبره) ناروا وي، نو سمدستي یې پرېږدئ. او که جائز وي، نو بیا سوچ وکړئ چې آیا په دې کې کومه ګټه شته که نه؟ یعني چټي او بې مانا خبره خو نه ده؟ که ګټوره وي، نو بیا وروسته فکر وکړئ چې دا خبره په کوم ډول او انداز کې وکړم؟ ځکه کله چې انداز ښکلی وي، نو خورا زیات او ښه اغېز کوي. د بېلګې په توګه: که کوم راغلي مېلمه ته د ډوډۍ خوړلو بلنه ورکوئ، نو د دې لپاره څو ډوله انداز کېدی شي: یو انداز دا دی: «راشئ له موږ سره ډوډۍ وخورئ.» بل انداز دا دی چې تاسې ترې وپوښتئ: «ایا تاسې له موږ سره ډوډۍ خورئ؟» (خو پام کوئ!) داسې پوښتنه کله هم مه کوئ، ځکه په دې کې دا وېره وي چې که مېلمه ډېر زیات بې تکلفه او نږدې نه وي، نو هغه به هیڅکله درته ونه وایي چې «هو، زه ډوډۍ خورم.» بلکې هغه به په منفي (نه) کې ځواب درکړي. خو دا چې هغه ستاسې سره بې حده بې تکلفه وي، نو په هغه صورت کې بیا داسې پوښتنه کومه د شرم خبره نه ده. که داسې نه وي، هغه به د حیا او شرم له امله «نه» ووایي. تاسې مېلمه ته اختیار مه ورکوئ (یعني دا پوښتنه مه ترې کوئ چې: ایا ډوډۍ خورئ؟) بلکې داسې ورته ووایئ: «راشئ له موږ سره ډوډۍ وخورئ.» له مېلمه څخه کله هم دا مه پوښتئ چې «آیا ډوډۍ خورې؟» که کله د کوم مصلحت له امله پوښتنه کول غواړئ، نو بیا ډېر غوره انداز غوره کړئ.

حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام ته مېلمانه (پرښتې) راغلل. کله چې هغوی تشریف راوړ، نو حضرت ابراهیم علیه السلام (له هغوی څخه له پوښتلو پرته) د هغوی لپاره د ډوډۍ برابرولو انتظام پیل کړ. ځکه خو په لږ وخت کې ابراهیم علیه السلام یو خوسی حلال کړ او هغه یې وریت کړ او د هغوی مخې ته یې راووړ. وګورئ، دا د انبیاوو علیهم السلام عادت او د هغوی اخلاق دي.

ځینې وختونه داسې شک وي چې ښایي مېلمه ډوډۍ خوړلې وي، نو ځکه په داسې موقع د احتیاط په توګه د پوښتنې اړتیا پیښېږي. په داسې وخت کې د پوښتلو غوره طریقه دا ده چې تاسې ورته ووایاست: «تاسې تشریف فرما شئ، زه ډوډۍ راوړم.» اوس که مېلمه ډوډۍ خوړلې وي، هغه به تاسې منع کړي او که یې نه وي خوړلې، نو بیا تاسې ورته ډوډۍ ورکړئ. خو په داسې انداز خبره مه کوئ چې له تاسې سره ناست خلک وشرمېږي، ذلیل شي یا رسوا شي. (بلکې د خپلو ملګرو هر ډول مراعات وساتئ او خبرې تل تللې او حساب شوې کوئ).

د یو ځل خبره ده چې زه او زما یو ملګری باید له اسلام اباد څخه کراچۍ ته په الوتکه (فلایټ) کې تللي وای. ځرنګه چې له موږ سره وخت لږ و، له همدې امله موږ سهار وختي ووتلو او هوایي ډګر ته د ژر تر ژره رسېدو لپاره مو په تېزۍ سره سفر پیل کړ. ځرنګه چې وخت لږ او واټن (فاصله) زیات و، نو موږ په بېړه کې وو، د الله قدرت و چې په لاره کې پولیسو ودرولو. زما ملګري پولیس ته وویل: «تاسې بې شکه زموږ تلاشي واخلئ، خو هیله ده مهرباني وکړئ لږ ژر ژر یې واخلئ، ځکه زموږ د الوتکې د پرواز وخت کېدونکی دی او دا وېره شته چې هسې نه ناوخته شو.» پولیس د دې خبرې په اورېدو سره سم، موږ ته له تلاشۍ اخیستلو پرته د تلو اجازه راکړه دا د ښکلي او نرم انداز برکت و، وړاندې حضرت صاحب د عاجزۍ له مخې وفرمایل چې: که چېرې زه د هغه په ځای وای، نو شاید ما به ورته ویلي وای چې «یاره! زموږ خپل کار دی، تاسې موږ ولې دروئ؟» په هر حال، هر هغه خبره چې تاسې یې کول غواړئ، که هغه سمه او روا هم وي، بیا هم د هغې خبرې لپاره لومړی پر خپل انداز او طریقه فکر کوئ او په خورا غوره او ښکلي انداز کې یې د بیانولو او وړاندې کولو هڅه کوئ.



# ربښتيني امريکايي

سيلاب خان

ډونالډ ټرمپ يو ريښتينی امريکايي دی، په يو امريکايي کې چې څومره «ځانګړتياوې» موندل کېدای شي، هغه ټولې په ده کې موندل کېږي. د خبرو کولو انداز، اوسېدل، ټولنيز ژوند، مالي چارې، نظريه، تګ راتګ... په لنډه توګه، ټرمپ په هر لحاظ امريکايي دی. که موږ په ټرمپ پوه شو، نو پدې «نوي» قوم يعني امريکايانو هم پوهېدلی شو، په ځانګړې توګه د دوی پر واکمنې طبقې باندې. هغه څه چې نړۍ ورته ساده او ربښتونی (Straight forward) وايي، د هغه لپاره اصلي اصطلاح «خوله ور/تونډ ژبی» ده. سوداګر نه د غريب زېبېښونکی پانګوال. په ځان باوري نه متکبر. له حالاتو سره مقابله کوونکی نه د عکس العمل ښکار... .reactionary

په لومړيو کې چې کوم خلک امريکا ته راغلل، نو په امريکا کې له ډېرو ستونزو سره مخ شول، له دغو ستونزو څخه يوه قدرت يا طبيعت و. حالات سخت وو، موسم سخت و، اوبه او هوا موافقه نه وه او په دې توګه «امريکايي انسان» دغه طبيعت خپل دښمن وګاڼه او پر وړاندې يې جګړه وکړه او د ژوند تر پايه ورسره په جګړه کې وو. دغو ستونزو هغه د اسانتيا غوښتونکی کړ، داسې اسانتيا چې هيڅ حد نلري، داسې اسانتيا چې د ترلاسه کولو لپاره يې هر کار روا او هر عمل حلال دی. دغه «امريکايي انسان» اسانتياوې او هوساينې له شتمنۍ سره تړلې وليدلې او د دغې شتمنۍ په لټه کې يې خپل ټول ژوند بايلود. د پيل امريکايان (سره له دې چې وروسته امريکايان وبلل شول)، د بريتانيا د امپراتورۍ هغه اتباع وو چې ډېری يې غله، شکوونکي او مجرمين وو. د دغو کار لپاره راوستل شويو خلکو څخه اکثره يې له زندانونو څخه را ايستل شوي او راوستل شوي وو او همدا جنايتکاره خلک بيا د دې نړۍ د راتلونکي يوه لويه برخه وګرځېدل.

## د امريکا ارزښتونه څه دي؟

د دوی يو لوی «ارزښت» ازادي ده. دلته د ازادۍ معنی بې حده ازادي ده. داسې ازادي چې هيڅ قيد پکې نشته.

څو کاله مخکې کله چې په کراچۍ کې د «عورت مارچ» په نوم د ځينو «ښاريو» منډيې جوړه شوه په هغه منډيې کې يادې شوې موضوعګانې او د هغوی بڼې د امريکايي ازادۍ غوښتنه وه. دا د امريکايانو «ارزښت» دی چې کله، هرڅوک، هرچېرته، او څنګه چې وغواړي راتلی شي. د جامو هيڅ قيد نشته، که تاسې غواړئ په دريشي او بوټانو (Suited-booted) کې د غاړې ټنۍ بنده کړئ، نېکټايي ورباندې وتړئ او لاندې بوټان په پښو کړئ، يا که لوڅ او لغړ په کوم ځای کې ګرځئ دا ستاسې حق دی، چې تاسو پکېآزاد ياست.

دا د امريکايانو عادت دی چې هر ډول اصول تر پښو لاندې کوي، ارزښتونه ورته هيڅ اهميت نلري او په شخصي، کورني او ټولنيز ژوند کې ورته اخلاق هېڅ ارزښت نلري. پرته له دې چې هغوی کومه دفتري دنده ولري، يا يې چېرې پيسې ښکېلې وي او يا هم کومه بله سوداګريزه معامله وي. د امريکايانو په منځ کې د اصولو يوه يا دوه بېلګې د لوبې له ډګر څخه وګورئ.

«فوټبال» لوبه څنګه کوي... يعني په لاس که په پښو؟ تاسې به هم ووايئ چې دا څومره ماشومانه پوښتنه ده. په حقيقت کې کله چې فوټبال امريکا ته ورسېد، نو د لوبېدو لپاره په لاس کې پورته کړل شو. دغه راز د ګول تر بريده د رسولو لپاره، په لاسونو کې نيول شوی او منډې ورسره ووهل شوې. د بلې ډلې لوبغاړي چې کله وغوښتل د خپل «ګول» دفاع وکړي، نو په منډه راغی، خپله اوږه يې په زوره د بال لرونکي په سينه کې ووهله، توپ يې ترې واخيست او وتښتېد .... هو، دې ته وايي «امريکايي فوټبال»! وروسته بيا فکر وشو چې دا بال يعني توپ ولې ګرد دی؟ نو هغه يې پچق کړ، کوږ وږ او يو څه اوږدغږی يې ترې

جوړ کړ او ویې ویل چې دا "امریکایي فټبال" دی.

څنگه چې په انځور کې د انسانانو بڼې په ډاگه نه دي، نو د لوستونکو د خوند اخیستلو لپاره دا انځور ایښودل شوی دی، ویې گورئ او خوند ترې واخلئ او دا هم فکر وکړئ چې دا فوټبال دی که کوټ بال (وهل ټکول) او که رېسلینگ؟ له هغه ځایه چې د رېسلینگ یادونه وشوه، نو تاسې به خامخا په یوټیوب کې د ډونلډ ټرمپ هغه ویډیو لیدلې وي چې په هغې کې هغه د خپل «ملاتړ شوي» پهلوان په مقابل پهلوان باندې غصه کېږي او بیا څه...... بس نیغ رېنگ ته ورلوېږي...... او د بل په وهلو ډبولو سره په بې اصولې سره په ریسلنگ کې د هغه کار تماموي!



[په پورته انځور کې تاسې لوبغاړي د فوټبال لوبېدو پر مهال لیدلی شئ. دا لوبه لوبغاړي د هیلمټ ( (Helmet او د اوږو د ساتنې کېټ Shoulder Safety Kit په اغوستلو سره لوبوي. په دې انځور کې تاسې امریکایي فوټبال هم لیدلی شئ چې نسواري رنگ لري او د لوبغاړي په دریشۍ باندې د لیکل شوي ۹۰ نمبر لاندې ښکاري.]

خیر، موږ د لوبو بله بېلگه بیانوو. «کرکټ» څنگه لوبوي؟ خیر، کوم افغانی، پاکستانی، بنگله دېشي یا هندوستانی دی چې د دې لوبې له بنسټیزو اصولو خبر نه وي؟! خو دا لوبه چې کله امریکا ته ورسېده، نو د بېټ پر ځای ترې ډنډه جوړه شوه او د بال کولو یا توپ غورځولو لپاره د لاس څرخول نه، بلکې وارونکي بال (وټا بال) ته بنسټیز اصل وویل شو. اوس بېټ لرونکي بېټ وڅرخوله او بال یې وواهه، بال نه پوهېږو، چېرته لاړ دوی د منډو جوړول پیل کړل. د دې لوبې نوم یې «بیس بال» کېښود، یعني «امریکایي کرکټ»! هو، په دې انځور کې لوبغاړی بال غورځوي!



[امریکایي کرکټر د بال غورځولو پر مهال!]

د امریکایي ملت جگړه خورا خوښه ده، خو یو شرط ورسره شته، چې مخالف باید تش لاس (بې وسلې) وي. بیا نو دوی داسې سخته جگړه کوي چې د تاریخ مېړني او اتلان یې په وړاندې لاس په نامه په ادب ولاړ وي. په امریکا کې د بدکارۍ د پراختیا لپاره کار کوونکي خلک، په خورا اخلاص او ډاډ (په حقیقت کې په بې شرمۍ او بې غیرتۍ) سره وایي چې موږ پلانکي پلانکي کارونه (چې دلته نشي لیکل کېدی)، د فحش کیسو لیکل او داسې نور، ځکه کوو چې موږ واړه واړه ماشومان لرو او د هغوی خېټه باید (په حلاله توگه) مړه کړو. د بدکارۍ  دغه هیجان او طوفان ته که نوم ورکړئ نو امریکا ورته ویلی شئ. هلته د dream partner یا د خوب د ملگري نظریه همدا هیجان دی. د نرانو لپاره مثالي شخصیت ون ډیزل او ډوین جانسن دي (چې په «ډی راک» هم مشهور دی) ، چې لوی لوی عضلات muscles پیسې او د مقابل (ښځینه) جنس د خوشحاله کولو لپاره سپورټي موټر او داسې نور شیان ولري. په داسې حال کې چې ښځه  چې څومره هم بې حیا/بدکاره وي او څومره چې نارینه ځان ته جلب کړي، هغومره مثالي گڼل کېږي.

آدم یحیی غدن رحمه الله د امریکا د تعلیمي نظام په اړه لیکي: «په دې کې هېڅ شک نشته چې ښوونځي... په ځانگړې توگه د امریکا دولتي ښوونځي... د ماشومانو د ذهن، اخلاقو، عادتونو او چلند، ارزښتونو او روغتیا د خرابوالي اصلي لامل دي. الحاد، بدکاري، شهوت پرستي، نشه یي توکي، واړه او لوی جرمونه، ناروغۍ او داسې نور هر هغه شر چې تاسې یې په اړه فکر کولی شئ... دا ټول شرونه به تاسې په ښوونځیو کې ومومئ، که تاسې د دې شري ښوونکو زده کوونکي یاست او یا دوی هغه کسان وي چې مسؤولیت یې تاسې ته درس ورکول دي. تاسې باید هېر نه کړئ چې دا هماغه د امریکا تعلیمي نظام دی چې پیزا ته د سبزي رنگ ورکوي، انسانان او بیزوگانې د یوه نسل مخلوق گڼي او له واده بهر جنسي اړیکې د منلو وړ بولي، په دې شرط چې خوندي وي.»

د امریکایي ذهانت په اړه سید قطب رحمه الله لیکي: «یوه ورځ موږ د پوهنتون په یوه کافیتیریا کې پر مېز ناست وو او ډوډۍ مو خوړله، ما ځینې امریکایان ولیدل چې پر هندوانه یې مالگه شیندله. زه به ډېری وخت پر امریکایانو باندې طنز او ټوکو کولو ته چمتو وم. ما په یوه مصنوعي معصومیت سره هغوی مخاطب کړل او ومې ویل: «زه تاسې گورم چې پر هندوانه مالگه شیندئ؟» په هغوی کې یوه وویل: «هو، آیا تاسې په مصر کې داسې نه کوئ؟». ما وویل: «نه! موږ خو پرې تور مرچ شیندو!» یوې محصلې چې پوره حیرانه شوې وه او شک ورته پیدا شوی و، ویې

پوښتل: «له (تورو مرچو) سره (د هندوانې خوند) څنګه وي؟». ما وویل: «تاسې یې په خپله تجربه کړئ!». هغې وخکله او په تائید سره یې وویل: «دا خو ډېره خوندوره ده!». په دې توګه نورو ټولو هم د هغې پیروي وکړه.

بله ورځ کله چې د هندوانې خوړلو وخت و، په کافیټیریا کې کابو هماغه ټول خلک موجود وو چې تېر ځل پر مېز په ډوډۍ خوړلو کې شریک وو، نو ما وویل: «په مصر کې زموږ شخه ځینې خلک د تورو مرچو پر ځای پر هندوانې بوره هم اچوي او خوري یې». په هغوی کې یوه سمدستي تجربه کړه او ویې ویل: «دا څومره خوندوره ده!!»، او نورو ټولو هم د هغه پیروي وکړه.»

د امریکایانو د وېښتانو د سټایل په اړه به څه ووایو؟! په دې کې خو په خپله ټرمپ د پوره بېلګې په توګه شتون لري. زیړ رنګ، Yellow colour... هو، هغه خپل وېښتان زیړ رنګوي.

په دې خبره باندې څه تبصره وکړو؟ داسې هم نه ده چې په امریکایانو کې هیڅ صفت نه موندل کېږي. که چېرې هغوی پرته له کوم صفت څخه وای، نو نن به یې په نړۍ کې دا «هر څنګه چې وي» مقام نه و ترلاسه کړی. خو د هغوی صفات انساني، ټولنیز او اخلاقي نه دي، بلکې د زیات تولید او د پانګې ترلاسه کول دي. د امریکایانو خصلتونه د دماغ د کارولو، شهوت او د لاس تر کارولو پورې تړلي دي، چې یوازې سمدستي او دنیوي نه، بلکې ظاهري پایله ولري. دا قوم د ذوق او عقل په خبر له صفاتو سره هیڅ تړاو نلري.

****

## د امریکا په هکله دوه اقوال

شیخ عبدالله عزام رحمه الله د امریکا په تعریف کې وایي: «امریکا عبارت د هغه پستو او بدکارو خلکو له ځمکې څخه ده چې خپلې ټولنې یې له خپل ځان څخه شړلي وو، نو ولاړل او یوه نوې ځمکه یې پیدا کړه چې هلته سور پوستو خلکو ژوند کولو، نو یې د هغوی تنګولو او وژلو پسې متې راونغښتې، تر دې چې له هغوی څخه یوازې څو میلیونه کسان پاتې شول.»

د امریکا د تور تاریخ په هکله دیني عالم، مجاهد او مرابط، شهید شیخ خالد بن عبدالرحمن الحسینان رحمه الله ډېره ښه تشریح او وضاحت ورکوي او مجاهدینو ته په خپله یوه خطبه کې وایي: «امریکا او پخواني طواغیت په ځانګړې توګه فرعون په وژلو، نړولو او د وینې په بهولو کې یو له بل سره ډېر زیات ورته والی لري، همدغه حال د فرعون هم وو، څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ﴾ (سورة القصص:۴)

ژباړه: بېشکه فرعون په ځمکه کې لويي را اخیستې وه او د دې (ځمکې) اوسیدونکي یې ډلې ډلې کړي وو، په دوی کې یې یوه ډله ډېره ضعیفه کوله د دوی بچیان به یې ذبح کول او د دوی ښځې یې ژوندۍ پرېښودلې.

او همدا ډول امریکا هم د خپل پیدایښت له لومړۍ ورځې څخه د خلکو ترمنځ، ډار، وېره او خپله تسلط خپروي او پراخوي، له خلکو څخه د هغوی مالونه اخلي او ترې غلا کوي یې، د خلکو آزادی محدودوي او د ځمکې غصبوي، نو آیا له امریکا څخه کرغېړن او غټ دهشتګر هم شته؟!

او موږ په ټول صراحت سره ویلای شو چې امریکا یوازې د مسلمانانو نه، بلکې د ټول انسانیت او هر قوم دښمنه ده او د دلیل لپاره ورشئ له افریقا وپوښتئ، له چاپان پوښتنه وکړئ، له جنوبي امریکا وپوښتئ، چېرې چې دغې امریکا په میلیونونه قتلونه او جرمونه کړي دي. او موږ به هېڅکله هغه جرمونه او قتل عام هم هېر نکړو کوم چې خپله امریکا کې د سور پوستو سره شوی دی، هغه چې غیر مسلمان تاریخ پوه یې د بشریت په تاریخ کې تر ټولو ستر قتل عام او ټول وژنه یادوي.»

دا پورته لیکنه د «دامریکا د خپلواکۍ ۲۵۰مه کلیزه؛ تور تاریخ، قاتل هېواد او بې افتخاره ملت» په نوم له مقالې اخیستل شوې. د پوره مقالې د لوستلو لپاره لاندې لېنک کېکاږئ!

https://butshikan.com/?p=1491



مولوي سعد طارق

# که سپوږمۍ شوله ناوخته لاره نه رانه ورکیږي

کله چې د جبر او غدر تور تمونه خپله هستي د مظلومانو پر شیندلو سینو خپره کړي او د تاریخ پر افقونو د ناهیلۍ غبار کېني، نو مړاوي او بې همته زړونه د زوال او مړینې ناڅاپي غږونه اوري؛ خو د ایمان د تندباد او د روحاني قافلې سپېڅلي لارویان پوهېږي چې دا غبرګه تېره شپه د یوه ستر، پیاوړي او رباني سهار له رحم څخه د راوتونکي لمر زېری ده. د امت د زوال او غفلت دا ګړۍ د هغوی د ابدي مړینې او له کائناتو څخه د ورکېدو په مانا نه دي، بلکې دا د خپلو اصلونو، د تنزیل له هیبتناکه چینو او د وحې له ځلانده سرچینو څخه د بې پروایۍ او غفلت هغه دردناکه او عبرت ناکه نتیجه ده چې بېرته په غوږونو کې د حماسې، بیدارۍ او د الهي پاڅون جرسونه او غږونه انګازې کوي. تاریخ تل په خپلو زرینو او خونړیو پاڼو کې دا شاهدي خوندي کړې ده چې کله هم د حق بېړۍ د باطل په متلاطمو څپو او مادي طوفانونو کې راګېره شوې، نو د ایمان له تونديې او ملکوتي سیلۍ څخه داسې سپېڅلي پاڅونونه او بېداره زړونه راپورته شوي چې د فرعونانو، جبارانو او نمرودیانو کبرجنې او مستبدې ماڼۍ یې په سیند لاهو کړې دي. کله چې په دیارلسمه زېږدیزه پېړۍ کې د تاتار وحشي او چنګیزي لښکرو په بغداد د قهر برید وکړ، د خلافت هغه عالي او زرینه ماڼۍ یې له خاورو سره خاورې کړه او د دجلې پاکې او مینه ناکې اوبه یې د کتابونو په مقدسه سیاهي او د مظلومو مسلمانانو په پاکو او ارغواني وینو سرې کړې، نو د نړۍ مادي پرستو پاچاهانو او د حق دښمنانو د اسلام د ابدي جنازې او زوال اوازې خپرې کړې. خو له مړاوو هیلو او د بغداد له هغو ایرو څخه یو ځل بیا د توحید، عزم او د غیرت حماسي شاهینان راوالوتل، او د عین جالوت په شګلنه او برخلیک ټاکونکې دښته کې یې د ظلم لښکرو ته داسې د عبرت ماتې ورکړه چې د تاتاریانو تاریخي غرور یې د تل لپاره د ذلت په خاورو کې ښخ کړ او د خپلو جهادي اسونو د سومونو لاندې یې د هغوی د کبر او وحشت ټولې نښې د نیستۍ کندې ته وغورځولې. دغه راز د صلیبي جګړو په خونړي او تیاره پړاو کې، کله چې د بیت المقدس په کوڅو کې د تکبیرونو او تهلیلونو پر ځای د وحشي تورو شرنګ او د بې ګناه مېندو او ماشومانو دردونکې چغې پورته شوې، د امت د شجاعت او ننګ نغمه مړاوې نه شوه؛ بلکې د شام د دښتو او د حجاز د غونډیو له تل څخه د غازیانو د اسونو د هیبتناک او ملکوتي اواز انګازې راغلې او د حق د لارې د سپه سالار په لاسونو کې ځلېدونکې او تېره توره یو ځل بیا د اقصی په مبارک اسمان کې د ځمکې د خلاصون او د ازادۍ د حق لمر د راختلو معجزه ثابته کړه. زموږ په خپل افغاني تاریخ کې هم، کله چې د یویشتمې پېړۍ د امریکایي فرعوني غاصب عصیان او د اشغال غبار زموږ پر لوړو غرونو او درو خپور شو او د ازادۍ هیلې تر مغرورو پښو لاندې شوې، د ایمان له چینې اوبه شوی د ثالث عمر داسې تندریز غږ راغی چې د امپراتورۍ د کبر ماڼۍ یې په سیند یووړه او د تکبیر روحاني غږونو د جګړې د میدان توده او حماسي روحیه په الهي ننګ ولړزوله.

نن ورځ یو ځل بیا غزه او د فلسطین سپېڅلې او د انبیاوو ځمکه د دغسې یو ستر تاریخي عذاب، معرکې او د بې ساري مظلومیت شاهده ده. په غزه کې روانه نسل وژنه، د معصومو او پرښته ډوله ماشومانو چغې، د ایماندارو مېندو او با عفته خویندو اوښکې او د هغوی د ویجاړو شویو کورونو، روغتونونو او مساجدو د مخروبو لوګي د امت د نن ورځې توره او وحشتناکه شپه انځوروي. د نړۍ د زبرځواکونو ظالمانه چوپتیا، د بشري حقونو د تش په نامه سازمانونو بې کفایتي او د ځینو واکمنانو بې ننګه مصلحتونه او سستۍ داسې دي لکه د صحرا د دښتې د ګرم، وچ او وژونکي سموم باد په څېر چې غواړي د حق او توحید دا بلېدونکې شمع تته کړي او د امت د هیلو زرغون ګلستان په دښته بدل کړي. خو د مېړنیو او مجاهدو زړونو ایمان د احد او حرا د غره په څېر محکم او د متزلزل کېدو لورې ته نه مائل کېدونکی دی؛ د هغوی قرآني صبر د سپېڅلي او خوشبویه سهارني نسیم په څېر د ټول امت مړاوې هیلې بېرته ژوندۍ کوي او د تکبیر په ملکوتي غږونو د دښمن د عصري وسلو او مادي زغرو غرور پاشي. په دغو حساسو او په ظاهره بې وسو شېبو کې، کله چې ټول ظاهري اسباب د دښمن د باطل په منګولو کې دي، د ایمان او عقیدې غازیان ناهیلي کېږي نه، بلکې خپل عزم د اسمان په ثابتو ستورو ترې او په پوره مېړانې او د زړه په ډاډ سره دا د عمل او جهاد په ډګر کې داسې زمزمه کوي:

که سپوږمۍ شوله ناوخته لاره نه رانه ورکېږي

پر مسیر باندې لا ستورو لا رڼا اورې را اورې

هو! که څه هم د الهي عدالت، فتحې او پوره خلاصون دغه سپوږمۍ د الهي حکمت پر بنسټ لږ ناوخته شوې ده، خو د حق غوښتونکو پر دغه مبارک او له ابدي عزم څخه ډک مسیر باندې د شهیدانو د پاکو وینو سرې رڼاګانې او د غازیانو د همت ملایک ډوله ورانګې د لارښودو ستورو په څېر ځلېږي. دا ځلانده مسیر موږ ته په کلکه غږ کوي چې د حق مزل د کاڼو، اغزو او د سرو وینو د سېلابونو سفر دی او دا یوازې د هغو الهي او فولادي عزمونو لپاره دی چې له قربانۍ، بند او شهادت نه وېرېږي؛ دا ځلاند ستوري په حقیقت کې د بېدارۍ هغه سماوي تندرونه دي چې د بې غوره او غافلو خوبونو پردو ته اور ورته کوي او مړو زړونو ته خبرداری ورکوي چې د حق او مظلوم تر څنګ درېدل د عیاشۍ اختیار نه، بلکې د ایمان، قرآني وجدان او د حقیقي عزت یو ستر الهي فرض دی. دا بې ساري قربانۍ، د شهیدانو پاکې وینې او دا مظلومیتونه یوازې د ویر او ماتم غږونه نه دي، بلکې دا د هغه الهي نظام د راتګ شرعي او تکویني لاره ده چې پېرۍ وړاندې یې د کائناتو سردار، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خپل امت ته روښانه خوشخبرۍ او وړاندوینې کړې دي. د نبوت د مبارکو او ربنتینو ارشاداتو په رڼا کې، دا حق دین به د نړۍ هر ګوټ او د هر انسان تر کوره پورې په هیبت او دبدبې سره رسېږي، داسې چېرته چې د اسمان شپه او ورځ رسېږي. الله تعالی به پر ځمکه هېڅ کور پرې نږدي مګر دا چې دا الهي رڼا به ور ننباسي، د حق غوښتونکو په بریا او عزت او د کفر او باطل په خوارۍ او ذلیل کېدو سره. دا قطعي وړاندوینې او مبارک احادیث ثابتوي چې اوسنی جبر او مظلومیت د تل لپاره نه دی، بلکې دا د خزان د مړو پاڼو د رژېدو غوندې یو لنډمهالی او تېرېدونکی پړاو دی چې وروسته به د نبوت پر تګلاره او منهاج باندې د عادلانه نظام، خلافت او د سرتاسري حق پسرلی خامخا د ځمکې په سینه راشین کېږي. د غزې بې مثله مېړانه او د نړۍ په کچه د نوي کهول او ځوان نسل په زړونو کې راپیدا شوې فکري او روحاني ویښتیا د همدغه روښانه او ځلانده سهار لومړی او ځپونکې وړانګې دي؛ ځکه چې د ایمان روحاني ډېوه په هېڅ مادي توپان او باروتو نه مړه کېږي او د حق بریا او خلافت غوړېدل د کائناتو د یو عادل خالق یوه قطعي، حتمي او نه بدلېدونکې ژمنه ده.

نو پاڅئ! همتونه لوړ کړئ او د حق د دې ځلاندې قافلې ملګري شئ، ځکه چې د تیارو عمر نور پای ته رسېدونکی دی او د ابدي سهار رڼا په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې ده.

****

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه د خپلې ناروغۍ پرمهال وژړل، خلکو ترې وپوښتل چې «ای ابوهریره! څشی د ژړوې؟»

هغه وفرمایل: «زه ستاسو په دنیا نه ژاړم، بلکې د خپل اوږده سفر او کمې توښې له امله ژاړم، زه په داسې یوه لوړه لاره ولاړ یم، چې پای یې یا جنت ته او یا دوزخ ته رسیږي او زه نه پوهیږم چې کوم لوري ته به بوتلل شم؟»

طبقات الکبری، ابن سعد

# د درود شریف ویلو ځیني
# ښېګڼې او کرامات

په دې پوه شئ چې په سیدنا حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې په درود ویلو کې لس ښېګڼې او کرامتونه شته:

۱. د الله تعالی له لوري درود او رحمت
۲. د حضرت نبي کریم ﷺ شفاعت
۳. د نېکو او پاکو ملائکو څخه پیروي
۴. د منافقانو او کفارو مخالفت
۵. ښښنه او د ګناهونو له منځه تلل
۶. د هیلو او اړتیاوو پوره کېدل
۷. د ظاهر او باطن روښنايي
۸. له جهنم یا هلاکت څخه ژغورل کېدل
۹. د تل پاتې جنت په لور تلل
۱۰. د مهربان رب له لوري سلامتیا او امن

مأخذ: بستان الواعظین و ریاض السامعین



# په جګړه کې د ایډیالوژۍ اهمیت
# او د الله تعالی د حاکمیت لپاره د جګړې ستراتیژیکه اړتیا

ابو سامي

داسې ګڼ شمېر مثالونه شته چې په هغو کې وروسته پاتو بدوي یا قبیلوي ټولنو په خپلو چریکي جګړو کې په خورا مسلح او د صنعت له پلوه په رسېدلو قدرتونو باندې سترې بریاوې ترلاسه کړې دي. د افغانستان او ویتنام معاصرې بېلګې د هر چا په ذهن کې شته، خو ډېر نور مثالونه هم شته؛ لکه الجزایر، جنوبي یمن، ایتوپیا، د ایرلنډ د خپلواکۍ جګړه او د هایټي انقلاب یا نور.

کېدای شي ځیني دا استدلال وکړي چې دا خالصې یا مکملې پوځي بریاوې نه وې؛ د بېلګې په توګه، ځیني سیمې ډېرې لرې وې او سخته جغرافیه یې لرله، یا دا چې لویو قدرتونو د استعمار لپاره داسې میکانیزمونه او طریقې رامنځته کړې، چې نور یې مستقیم پوځي حضور ته اړتیا نه لرله. خو بیا هم، په دې ټولو قضیو او د معاصرو سیاسي واقعیتونو په جوړولو کې چریکي ځواکونو او د هغوی پوځي بریاوو مهم رول لوبولی دی.

که دې ټولو قضیو ته وګورو، ښکاري چې دا نسبتاً جلا جلا پاڅونونه وو چې محدود سیمه‌ییز اهداف یې لرل؛ لکه له خپلو پلرنیو ټاټوبو څخه د بهرنیو ځواکونو ایستل، په دوی کې ځینو یې د یوې پراخه او نړیوالې سوسیالیستي پروژې د یوې برخې په توګه له ځان سره د شوروي ملاتړ هم درلود، ډېر نور یې له دغه ډول ملاتړ څخه بې برخې وو، خو بیا هم بریالي شول. دا په رښتیا هم یو نه انکارېدونکی ثبوت دی چې په شریعت عمل کوونکی او د چریکي جګړې پر بنسټ ولاړ یو همغږی خوځښت کولی شي، حتی له صنعتي منابعو پرته هم، په اغېزناک ډول له لویو قدرتونو سره مقابله وکړي. دا خبره په ځانګړي ډول هغه وخت لا زیات صدق کوي چې د خوځښت یا حرکت د اوسیدو په سیمه کې دننه د افرادو، پوهې او مالي سرچینو د انتقال لپاره اغېزمنې لارې موجودې وي.

د دې ستراتیژۍ لومړنۍ او تر ټولو بنسټیزه اړتیا دا ده چې باید دا ومنل شي چې شریعت د معاملې وړ څیز ندی؛ هرڅوک چې له شریعت پرته بل هر څه لټوي (له شریعت پرته په نورو قوانینو پسې روان وي) اګر که ورته بهانې ولټوي او دلیلونه ورته راوړي، په کفر کې واقع دی او باید ورسره جګړه وشي، دا هم له عملي او هم له اخلاقي پلوه یوه اړینه اړتیا

ده. د اسلامي سیاسي نظریې له مخې، د شریعت احکام او ورباندې عمل کول په حکومت کې د ملا د تیر حیثیت لري او د مشروعیت اصل جوړوي (د اسلامي سیاسي نظریې له مخې یو حکومت تر هغه مشروعیت نشي ترلاسه کولای تر څو چې په شرعي احکامو باندې عمل ونکړي)، همدارنګه په هغه وخت او شرایطو کې چې سرچینې کمې وي، (اسلامي حکومتولي) د معاصرو حکومتونو د بنو په پرتله ډېر ارزانه او د عملي کېدو وړ ده، ځکه چې په اسلام کې حکومتولي عبادت ګڼل کېږي؛ دا د توحید مسئله هم ده.

د ملتپالو یا نشنلیستي حکومتونو ریښې له پروټستانت (د عیسوي مذهب له یوې نوعې) څخه سرچینه اخلي، نو د شریعت او نشنلېزم ترمنځ جګړه د صلیبي جګړو یوه معاصره بڼه ده. د یوه چریکي خوځښت یا حرکت بریا په دې پورې تړلې ده چې خلک راټول کړي او هغوی دې ته قانع کړي چې د خپل هدف لپاره په بشپړه توګه مرګ ومني، له همدې ځایه ویلای شو چې نیمه ملتپال او نیمه اسلامپالې (یا هغه چې نیم نشنلېست او نیم مسلمان وي) تګلارې به یې د مسلمانو ټولنو په منځ کې ځای ونه نیسي.

که څوک په اخلاص سره د نشنلېزم لپاره جګړه کوي، نو تر روند بیرغ لاندې د جګړې له امله یې مرګ د جاهلیت دی او د همدې جګړې له امله به په دوزخ کې وي، دلته ښکاري چې اسلامي پوهه په مستقیم ډول د نشنلېزم د جګړهییزې قوې اغېزمنتیا کموي. (کمول په دې معنا چې که څوک په دې خبر شي، نو هغه د نشنلېزم لپاره په جګړه کې مرګ ته نه دی تیار او دا یعني چې قوت یې کم شو)، همدا شان که څوک سالمه اسلامي پوهه ولري، یوازې هغه وخت په اغېزناک ډول جګړه کولی شي چې په زړه کې ډاډه وي چې د یوه رښتیني اسلامي هدف لپاره جګړه کوي.

داسې ښکاري چې نن ورځ ډېر لږ کسان داسې شته چې په دې پوهیږي چې انګېزه د ټکنالوژیک او عددي ځواک (چې هغه هم مهم دی) په پرتله څومره زیاته مهمه ده. که وکتل شي په تاریخ کې بل داسې هېڅ ځواک نه شته چې د لومړنیو مسلمانانو څخه زیاتې بریاوې یې خپلې کړې وي په داسې حال کې چې د دوی دښمنان د شمېر او قوت په لحاظ ډېر زیات برلاسي او قوي ښکارېدل، البته که د دوارو لورو ترمنځ د ځواک توپیر ته وکتل شي.

که څه هم په دې بریاوو کې ګڼ عوامل شامل وو، خو دیني انګېزه یې تر ټولو لویه او مهمه برخه وه. همدا اصل نن هم صدق کوي؛ د بریا تر ټولو مهم عامل د خپلې موخې پر حقانیت او رښتینولۍ نه ماتېدونکی باور دی، د هغه مسلمان لپاره چې پوهه ولري د الله تعالی د حکم د نافذېدو لپاره جګړه یوازینۍ هدف



وي، نه دا چې د انسانانو يوه ډله پر بله ډله واکمنه شي.

د اسد د رژيم په نسکورولو کې د احمد الشرع بريا پر يوې دوه اړخيزې تګلارې ولاړه وه، چې په هغې کې يې د توحيد بيرغ او د نشنلېزم بيرغ يو د بل تر څنګ رپاوه. هر څوک په دې نه وو قانع، خو د نصيري رژيم وضعيت او چلند دومره وحشتناک و چې ډېرو مسلمانانو دا د اړتيا له مخې ومنله او ورسره يې قبوله کړه. واک ته له رسېدو لږ وروسته، هغه اسلامي هويت په بشپړه توګه څنډې ته کړ او د نړيوالو د ملاحظاتو له امله يې د توحيد بيرغ له ټولو رسمي مراسمو او دفاترو څخه لرې کړ، دا په دې معنا، لکه څنګه چې د سوريې د خلکو له اوسني وضيعت ښکاري، که سوريه بلې جګړې ته اړه شي، نو تر ډېره بايد د اسلامي هويت پر ځای د ملي روايتونو پر اساس جګړه وکړي. يو له هغو لاملونو څخه چې له امله يې مسلمان ملت او دولتونه تل له لويديځ ملت او دولتونو سره په شخړو کې کمزوري ثابت شوي، دا دی چې مسلمان دولتونه د اروپايي دولتونو په پرتله نسبتاً نوي او مصنوعي دي. د بېلګې په توګه، فرانسوي او برتانوي ملتونه د سلګونو کلونو جګړو، مذاکراتو او کلتوري او ارثي يووالي په پايله کې رامنځته شوي دي. دغه دولتونه د انګليسي کانال، د پير او آلپ د غرونو په څېر د واقعي جغرافيايي تقسيماتو پر بنسټ جوړ شوي وو. سربېره پر دې، د سلګونو کلونو جګړو او د هغوی د پوهانو د بحثونو له لارې، خلکو په پراخه کچه دا مفکوره منلې وه چې د يوه ملت خلک د خپل برخليک د ټاکلو حق لري؛ هغه مفکوره چې په پای کې د مسيحي الهياتو له مفاهيمو سرچينه اخلي، لکه د انسان الوهيت، د عيسی عليه السلام الهي طبيعت، د عيسی عليه السلام د تقليد وجوب، او دا ورتيا چې د وحيې تر څنګ د عقل له لارې هم د خدای اراده وپېژني. له همدې امله، په اسلامي هېوادونو کې ملتپالنه او نشنلېزم عموماً د اروپايي ملتپالنې او نشنلېزم په پرتله سطحي او ګډ وډ ښکاري (که څه هم دواړه ډوله په خپل ذات کې کرکجنې دي).

نو کله چې برتانويان يا امريکايان د خپلو هېوادونو لپاره خپل ژوند قربانوي، هغوی د خپلو نيکونو د ميراث لپاره جګړه کوي، د هغو سختو مبارزو لپاره چې د ظالمو اشرافو او فاسدو مذهبي مشرانو پر وړاندې د عامو خلکو د حقونو د خوندي کولو په موخه شوې وې او تر دې هم وړاندې، هغوی د خدای هغه انساني انځور لپاره جګړه کوي چې د پېړيو راهيسې يې عبادت کړی دی، ځکه چې معاصر نشنلېزم د مسيحي الهياتو نچوړ او خلاصه ده. (د دې برعکس) کله چې په مسلمانو هېوادونو کې خلک د نشنلېزم لپاره جګړه کوي، هغوی په اصل کې د هغو پرديو او تر ډېره د تصادفي وېشونو او سرحدونو لپاره جګړه کوي چې مستشرقينو لخوا ورباندې د قومي او ژبني توپيرونو له مخې تحميل شوي دي. نو په دې کې هېڅ شک نشته چې د انسان فطرت به په واقعي توګه د داسې کمزورو ايډيالوژيو لپاره له ځان څخه تېرېدل نه مني.

او دا خبره د جګړې په ډګر کې هم څرګندېږي.

په لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې کې داسې ګڼې جګړې وې چې په هغو کې د نشنلېزم لپاره ډېر زيات اروپايان ووژل شول، حتی له هغو څخه څو چنده زيات شمېره چې د النکبه[1] له پيښې څخه وروسته تر نن ورځې د عربو او اسرائيلو په (نشنلېستي) جګړو کې وژل شوي دي. (هغه جګړې چې کومه شرعي ايډيالوژي يې نلرله بلکې يوازې د عربي خاورې د خلاصون فکر ورسره وو)، نو ښکاري چې د (همدې نشنلېزم لپاره د کفري او مسلمانانو هېوادونو) د ځان قربانولو چمتووالی هېڅ د پرتلې وړ نه دی، او دا ښکاره کوي چې غربيان ولې تل د جګړې په ډګر (د نشنلېستي مسلمانانو څخه) قوي ثابت شوي دي.

په حقيقت کې، په تېره لسيزه کې په سوريه او عراق کې د امريکايي هوايي بريدونو له امله د هغو کسانو تلفات چې د نشنلېزم د له منځه وړلو لپاره يې جګړه کوله او ووژل شول، د عربو او اسرائيلو د ټولو ملتپالو جګړو له مجموعي تلفاتو هم زيات دی. دا (قرباني) هم د هغو کسانو د باور انعکاس دی چې د (نشنلېزم ضد) ايډيالوژۍ لپاره يې جګړه کوله.

دا باور چې مادي عوامل له ايډيالوژيکو عواملو څخه ډېر مهم دي، پخپله د ماديت يوه بريا ده، او د ماديت پلويان د هغو شيانو له مخې هڅول کېږي چې تر ټولو غوره مادي پايلې ولري.

---

[1] النبکه هغه پيښې ته اشاره ده چې په هغه کې تقريبا ۷۰۰ زره فلسطينيان په يوه شپه کې له خپلو کورونو څخه وشړل شول او پرځای يې يهودي دولت جوړ او صهيونستان واکمن شول.

# د بې نظمه کابل پر وړاندې د خلکو او دولت مسؤولیت

بریالی

پخواني اسلامي خلافتونه او حکومتونه د نورو وياړونو او افتخاراتو ترڅنګ په دې هم مشهور و چې د دولت مرکز به په خورا ښه او زړه راښکونکي شکل سره جوړ شوی و، که څه هم چې د اسلامي حکومت اولينۍ دنده دا ده څو شريعت پلی کړي، په مسلمانانو باندې لمونځ قائم کړي، زکات ترې راټول کړي، امربالمعروف او نهی عن المنكر وکړي، همدا د ژوند هدف او د اسلامي نظام دندې دي، بلکې د مسلمانانو يوازينۍ هدف د الله تعالی عبادت او هغه ته ځان رسول دي، خو بيا هم د مسلمانانو د سوکالۍ لپاره د منظم او پاک ښار جوړولو ته حضرت عمر رضي الله عنه هم توجه کړې وه او د کوفې او بصرې په شان نور زيات ښارونه يې ودان کړي وو، تر څو د الله تعالی د دين د سرلوړۍ لپاره مسلمانان هلته پاتې شي، آرام وکړي، تجارت وکړي او علم او ادب ته کار وکړي. له خلفاء الراشدينو وروسته د اموي، عباسي او يا له هغوی څخه د وروسته خلافتونو په زمانه کې هم زيات ښارونه جوړ شول چې ځينې يې لکه بغداد، قاهره، مراکش او قرطبه تر اوسه پورې د اسلامي معمارۍ د يو شهکار په توګه ياديږي. بغداد د اموي خلافت په وخت کې جوړ شوی ښار و چې له لومړي سره ورته نقشه جوړه شوې وه او يو له متمدنه ښارونو څخه ګڼل کېده، چې په منځ کې يې له اوبو ډکې ويالې بهېدې او په اموي زمانه کې يې د نفوس شمېر تر يو ميليون کسانو پورې رسيده، همدا شان د پخوا وخت څخه را پاتې بل ښار چې تر اوسه پورې خلک ورته حيران او ګوته په غاښ پاتې هغه د قرطبې ښار دی، چې د اموي کورنۍ اړوند شخص «عبدالرحمن الثالث» لخوا په اندلس کې جوړ شوّدی او د اندلس مرکز يا پايتخت ګڼل کېده، دا ښار به د شپې له طرفه په چراغونو روښانه او له هر ډول کثافاتو څخه پاک وو، په دې ښار کې هغه وخت تر يو ميليون کسانو پورې ژوند کولو په داسې حال کې چې د اروپايي هېوادونو په نورو کفري مرکزونو کې تر پنځه ويشت زره زياتو کسانو ژوند نشو کولای. د دې ښار ودانۍ په ځانګړې توګه د الحمراء ماڼۍ، د اوبو رسولو شبکه او د فاضلاتو د ټولولو ترتيب تر اوسه پورې د يوې معجزې په توګه ياديږي، دا هماغه ښار دی چې کله به ورته نور سيلانيان او شاعران راغلل نو حواسو به يې کار پرېښود، لکه څنګه چې فرانسوي شاعر ويکتور هوګو ليکي:

«ای الحمراء! اې الحمراء! اې بې مثاله ماڼۍ! پرښتو په څومره عجيبه شکل سره جوړه کړې او منظمه کړې يې؛ اې د عزت او ښايست لويې ماڼۍ! تر نن ورځې پورې سپوږمۍ ستا په طلايي دېوالونو باندې خپلې شعاوې غوروي، په شپه کې ستا له ښکلا څخه داسې نغمې پورته کيږي چې عقل ورته کار پرېږدي»[1]

کابل هم په نن ورځ کې د ځمکې پرمخ د يوازيني، سوچه، اسلامي حکومت مرکز ګڼل کيږي، دا ښار که له يوې خوا د وخت ناخوالو آرامۍ، سوکالۍ او آبادۍ ته ندی پرېښی، له بلې خوا په دې ښار پخوانيو واکمنو حاکمانو او عام ولس هم ورسره هغه ډول وفا نده کړې څنګه چې بايد شوې وای، دلته مو مطلب دا دی چې دولتونو اکثره د دې ښار جوړوېدو ته د هماغه ورځې له نظره کتلي، د اوږد مهال پلان يې ندی جوړ کړی، د لويو لارو، د کورونو د نقشو، د نفوسو د کنټرول، د منظمې اوبو رسولو د شبکې، د منظم فاضلاب د سيستم، او منظمو مارکېټونو جوړولو ته خو له سره توجه نه ده شوې، له همدې امله نن ورځ مونږ وينو چې په دغه څو ميليوني ښار کې نه نظم شته، نه منظم او معياري کورونه، نه د نفوس په اړه څوک دقيق خبر لري او نه هم د اوبو د بحران لپاره کار شوی دی؛ البته بايد ووايو چې د دولتونو ترڅنګ عام ولس هم له خپل ټاټوبي او ښار سره د وفا اراده نلري، هرڅوک غواړي يوازې يو کور ولري چې سر يې پکې پټ وي او ژوند يې پکې راحت شي، نور

---

[1] من روائع حضارتنا، مصطفی السباعي



په دې فکر نه کوي چې آیا دا کور په قانوني ځمکه باندې جوړیږي یا د غصب په ځمکه، په منظم شکل جوړیږي او که غیر معیاري، د موټر ایستلو په وخت د ترافیکو قوانین نه مراعات کیږي، د کثافاتو او نورو خوراکي توکو پاتې شوني په سرک غورځول کیږي، د اوبو په مصرف کې اسراف کیږي، د کور او دوکان مخه د خپلې ګټې لپاره استعمالوي او نور دا فکر نکوي چې دا به نورو خلکو ته تاوان رسوي کنه، د عامو خلکو د ګټې لپاره کارېدونکو وسایلو ته توجه نکوي او اکثره یې په لوی لاس خرابوي.

دا چې اسلامي امارت له یوې خوا د افغانستان له پاک او سپېڅلي حریم څخه د جهاد په نتیجه کې اشغالګر وشړل، امنیت یې ټینګ، فساد یې ورک او د امر با لمعروف او نهی عن المنکر فریضه یې تر اوسه په ښه توګه اداء کړې ده، د الله تعالی څخه غواړو چې نور هم دغې برخې ته متوجې شي او د نړیوالو له ټولو فشارونو سره سره بیا هم په دې برخه کې سستي ونکړي، له بلې خوا یې د مسلمان ولس د خدمت او هوساینې لپاره شپه ورځ یوه کړې او غواړي دا ښار آباد کړي نو خپله دولت او ولس ته ښایي چې ځینې ځینې نقطې په نظر کې ونیسي، تر څو نه د ښار په آبادۍ کې خنډ رامنځ ته شوی وي او نه هم عام مسلمان ولس ته زیان او تاوان رسیدلی وي او یا یې ورځنۍ چارې ګډې وډې شي:

۱. **د کابل پر ځای د نورو ښارونو آبادول:** دا چې کابل د خپل جوړښت له لومړۍ ورځې څخه د کومې نقشې او پلان په اساس ندی جوړ شوی او اوس مهال یې نفوس تر میلیونونو اوړي نو ځکه خو اوس وخت کې د دې ښار منظموول خپله یو لوی کار او زیات مصرف ته اړتیا لري، په اوسنیو شرایطو کې ممکن نه بریښي چې کابل په هغه ډول جوړ شي کوم ډول چې باید یو ښار او یا د یوه دولت مرکز واوسي، له بلې خوا د ملګرو ملتونو د بشري استوګنې د پروګرام (هبیات) د یوه راپور له مخې چې څو اونۍ وړاندې یې نشر کړ، ډېرې افغانان هڅه کوي چې ښارونو ته لاړ شي، د راپور له مخې تر ۲۰۶۰ میلادي کال پورې به د افغانستان د نفوس تر نیمایي زیاته برخه په ښارونو کې ژوند کوي، نو دولت ته ښایي تر څو دغې برخې ته له اوس څخه پلان جوړ کړي، د کابل پر ځای باید ځینې نور لوی ښارونه آباد کړي، تر څو د نفوس د زیاتوالي په وخت کې هغه ډول ناخوالې تکرار نشي کومې چې اوس مهال د کابل په ښار کې لیدل کیږي. باید یادونه وکړو چې اسلامي امارت په عملي توګه د نوي کابل ښار د جوړولو کار پیل کړی دی، چې د میلیونونو خلکو لپاره به یو منظم ښار وه اوسي، دا یوه ستره لاسته راوړنه ده او په دې برخه کې د اسلامي امارت هڅې د ستایلو دي، البته چې هغه ښار باید د ټولو اوسنیو او راتلونکو معیارونو په نظر کې نیولو سره جوړ شي او یوازې په نوي کابل باندې بسنه ونشي، بلکې په نورو ځایونو کې هم دې ته د ورته پروژو ضرورت لیدل کیږي، د دې لپاره یوه منظم کار ته اړتیا ده، باید ښارونه مشخص، پلان او نقشې ورته جوړې، د اوبو او خوړو، لارو او سرکونو، بازار او دوکانونو غم یې وخوړل شي او چاته اجازه ورنکړل شي چې په خپل سر آبادۍ او بې پلانه معمارۍ وکړي، البته چې یادونه باید وشي، چې د کابل د مشکل د حل لپاره د کابل نږدې اور لرې ولایتونو کې د دا ډول ښارونو د جوړولو اړتیا تر نورو ځایونو زیاته ده.

٢. **په یو وخت کې د زیاتو پروژو له شروع څخه ډډه کول:** له کله چې اسلامي امارت راغلی دی نو د کابل ښاروالۍ هڅه کړې ده تر څو د کابل آبادۍ او ودانولو ته کار وکړي، د همدې موخې لپاره یې زیاتې پروژې شروع کړې هم دي چې ځینې یې بشپړې شوې او په ځینو باندې اوس هم کار روان دی، خو دا چې له یوې خوا افغانستان د اقتصاد له پلوه یو غني او مالداره هېواد ندی او له بله پلوه په کابل ښار کې په میلیونونه کسان ژوند کوي نو ځکه خو د پروژو د پلي کولو سرعت کم او د خلکو بیروبار او مشکلات زیات شوي دي، د مثال په ډول ویلای شو چې په سرکونو د کار له امله راه بندۍ او د ترافیکو زیاتوالی باعث شوی دی چې خلکو ته تکلیف ورسیږي، د کابل ښاروالۍ ته ښایي تر څو د کابل ښار په هره لاره او کوڅه باندې په یو وخت کار شروع نکړي، بلکې خپلې مالي او بشري منابع دې پر یو ځای راټولې کړي او د یو ځای له جوړېدو وروسته باید چې بل ځای کار شروع کړي.

٣. **د عامه پوهاوي په برخه کې کار کول:** د کابل ښاروالۍ او اړونده ادارې د ښار په نظافت باندې خورا زیات مصارف کوي، سرکونه پاکوي، ویالې او سیند پاکوي خو له یوې هفتې وروسته د سرکونو په سر او د ویالو په منځ کې بیرته هغومره کثافات پیدا کیږي چې باید حتما پاک شي، په دې برخه کې ولس خورا بې باکه چلند لري او تر اوسه پورې د خپل ښار پاکوالي ته هېڅ توجه نه کوي، نو ښاروالۍ ته ښایي تر څو د خپلو مصارفو یوه برخه په عامه پوهاوي ولګوي، د نورو ادارو سره د همکارۍ تړونونه وکړي، د حج او اوقافو د وزارت په مرسته د مسجدونو امامان اړ کړي ترڅو خلکو ته په دې اړه پوهاوی ورکړي، د پوهنې وزارت په مرسته په ښوونځیو کې سیمینارونه ورکړي، د ښوونځیو زده کوونکي په نوبتي شکل سره د اشر یا ګډ کار لپاره را وباسي تر څو هغوی زده کړي چې د ښار پاکوالی یعنې څه؟ همدا شان د تحصیلاتو وزارت سره په همکارۍ د پوهنتون محصلین په عملي او نظري توګه وروزي، اشر ته یې وباسي، ښار ورباندې پاک کړي، له ښاري فرهنګ سره یې آشنا او په غوړېدنه کې یې برخوال کړي.

٤. **د خلکو لپاره ځایونه مشخصول:** په تېرو څو کلونو کې د کابل ښار د نظم په برخه کې په کار بوختې او اړوندې ادارې یوازې په دوو برخو کې لاسته راوړنې لري، لومړی د لاسي کراچیو لپاره د ځایونو مشخصول او دوهم د ولایتي موټرو د اډو لپاره د ځایونو مشخصول، اګر چې په دې اړه اقدام شوی دی خو بیا هم دا هرڅه یوازې یو پلان پاتې شوی دی، ځکه چې نه خو لاسي ګاډۍ په مشخصیو ځایونو کې دریږي او نه موټر مشخصو اډو ته ځي، نو اړونده ادارې باید توجه ورته وکړي او د دې ترڅنګ په ښار کې د عامه پارکېنګ لپاره ځایونه مشخص، جوړ او آماده کړي تر څو خلک اړ نشي چې د سړک په سر خپل موټر یا نور وسایط پارک کړي.

٥. **د قانون ماتوونکو لپاره جزایي اصول وضع کول:** په نړۍ کې اکثره ترافیکي قوانین د ترافیکي جریمو په زور پلي کیږي، څوک چې په ښار کې ګرځي نو باید ټولو اصولو ته پام وکوي کنه نو د دوی له بانک اکونټ څخه د جریمې په اندازه پیسې ګرځول کیږي، همدا شان نورو برخو کې هم دغه ډول اصول شته، حتی ځینو ځایونو کې په اصولو ماتوونکو باندې عامه کارونه کیږي، د مثال په ډول که یو څوک خپل کثافات د سړک په سر واچوي نو دولت هغه سړی مکلف او مجبوروي چې د یوې ورځې لپاره په ښار کې کثافات ټول کړي، په دې سره بیا دا سړی کوښښ نکوي چې بل ځل دا غلطي تکرار کړي او همدا د یوې ورځې په نتیجه کې یې یوه اندازه نور ښار هم پاکیږي. نو دا خو د خارجو هېوادونو حال وو، دا چې په افغانستان کې هم دا ډول غیرقانوني کړنې کیږي نو د نورې نړۍ د جریمو برعکس[٢] باید چې دلته د مجازاتو او تأدیب

---

[٢] مالي جریمې د شریعت د مقدس دین په رڼا کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په امر بندې شوې دي، نو ځکه دلته د نړۍ برعکس باید چې جریمې نه وي او پرځای یې د تأدیب او ادب ورکولو لپاره اصول او مقررات وي.

(ادب ورکولو) لپاره یوه واضحه تګلاره موجوده وي، د مثال په ډول دلته په ترافیکي برخه کې اکثره شکایت دا وي چې د دولت پورې اړوند کارمندان په خپلو دولتي موټرونو کې ترافیکي اصولو ته توجه نه کوي، له بلې خوا په ټولو دولتي ادارو کې د اړونده نقلیه واسطې او د هغوی د چلوونکي په اړه ټول معلومات موجود وي، نو که چېرې ځینې هغه کسان چې دا ډول غیر اصولي کړنې کوي محکمه او مجازات شي او نقلیه واسطه یې قید شي، نو به نورو خلکو ته عبرت ګرځېدلي وي او بیا به هېڅکله دا ډول کړنې تکرار نشي.

٦. **د دولت او خلکو متقابله همکاري:** دا چې دولت په ټولو امورو کې نشي کولای مداخله وکړي او یا دومره وس او توان نلري نو خلکو ته هم ښايي چې د دولت ترڅنګ ودرېږي، که څوک هرڅومره د یوه دولت خلاف وي بیا هم باید چې هغه ډول اصولو کې مخالفت ونکړي د کومو چې ګټه او منفعت عامو خلکو او مسلمان ولس ته رسیږي، خلک باید چې د دولت له زور پرته خپلو خپلو چارو ته متوجې شي، موټروان باید خپل موټر د اصولو له مخې وچلوي، ټکسي وان باید هغه ډول لار شي او خپله ټکسي واني وکړي کوم ډول چې د دولت له خوا ورته ویل کیږي، کراچی وان باید د دولت له خوا ورته مشخص کړل شوي ځای ته لاړ او د سرک سر باندې خپله کراچۍ ونه دروي، تجاران د خپل لوی موټرونه د شپې لخوا ښار ته داخل کړي، د کور جوړونکی باید چې کور جوړولو پروخت د ښاروالۍ اصول او د اسلام د مبارک دین هغه لارښوونې په نظر کې ونیسي چې په واسطه یې خطر هم له خپل ځان او هم له ګاونډیانو څخه خوندي کیږي، د کور اوسېدونکي او ښار ته راوتونکي باید خپل کثافات په منظم ډول ټول کړي او بیا یې یو مشخص ځای کې واچوي په لار د کثافاتو او پلاستیکونو اچول خورا ناوړه کار دی او له دې ټولو سره سره باید دولت هم په خلکو باندې څار وکړي او دې چارو ته یې متوجې او مجبور کړي.

په آخر کې ویلای شو چې د افغانستان په څېر د یوه اسلامي هېواد او دولت پایتخت باید مثال وي او لکه د پخوانیو اسلافو غونډې باید موږ هم د نورو دیني او دنیوي چارو ترڅنګ دې برخې ته متوجې واوسو، لکه څنګه موږ امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته د فریضې په سترګو ګورو او زیات فکر مو باید چې په همدې برخه وي، همدغه شان باید د مسلمانانو د هوساینې لپاره کار کولو ته هم د عبادت په نظر وګورو، خلکو ته امکانات برابر شي تر څو خلک د همدغو امکاناتو څخه په استفادې سره خپل آخرت ته لا زیاته آمادګي ونیولای شي، خلک په دې برخه کې د ځان ملګري کړو، عملي او مؤثر اقدامات ترسره کړو تر څو زمونږ ټول ښارونه په ځانګړې توګه د کابل ښار له دې ناخوالو او بیروبار څخه خلاص شي.

دا یو څو کلمې وې چې د دې ښار د یوه اوسېدونکي له لوري د هغه د شخصي تجربو او لیدنو په اساس لیکل شوې دي، د کابل ښاروالۍ تر دې زیاته پوهه او مسلکي کدرونه لري، هغوی باید په خپلو کارونو کې جدي شي او په سنجیده، مسلکي، واقعي او عملي توګه خپلې چارې پرمخ بوزي او د دې خواږه ښار څخه یو ځل بیا هغه کابل جوړ کړي چې په نېږدې ساحه کې به یې سیال نه لیدل کېده، همدا شان د خپل پلانونه د راتلونکو پنځوسو کلونو لپاره جوړ کړي نه دا چې د نن ورځې لپاره پلان جوړېږي او د سبا غم نه وي. خلک هم باید د خپل دولت ملاتړي شي، د اسلامي حکومت سره خپلې همکارۍ ته د عبادت په نظر وګوري او د خپلو اولادونو د راتلونکي لپاره فکر وکړي.

إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ

زه خو اصلاح کول غواړم ترڅو مې چې وس رسیږي او زه چې د څشي سرته رسول غواړم هغه په ټوله معنا د الله په توفیق پورې تړلي دي.

****



# په شام کې د جهاد راتلونکی ۴

استاد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق

## د بت شکن اداري یادونه

په شام کې د جهاد راتلونکی په نوم لیکنه د عالم او مجاهد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق سره د النازعات اداري د یوې مصاحبې لیکل شوې بڼه ده، چې پکې یې ځینې واقعیتونو ته اشاره کړې ده، نه یوازې د شام بلکې د نورې نړۍ مسلمانانو ته هم پکې نصېحتونه او پندونه شته دي، په دې لیکنه کې هڅه شوې څو د شام او په ټوله کې د ټول امت اسلامي مشران وهڅوي چې د خپلو مسلمانو ورونو او مجاهدینو سره ریښتیني وه اوسي، د کفارو او نورو سیکولر هېوادونو له غیرې څخه لرې وه اوسي او پکې یې نورو ډېرو ګټورو خبرو ته هم اشاره کړې ده، د بت شکن اداري دا لیکنه په پښتو ژباړلې ده او له خپلو لوستونکو څخه هیله لري چې له افراط او تفریط، جذبې او احساساتو څخه لرې او تېرو تاریخي واقیعتونو ته په کتلو سره دا لیکنه په سړه سینه ولولي، مونږ له هېچا سره هېڅ ډول شخصي دوښمني نلرو، نو چې هر څه وي یوازینی هیله به مو دا وي چې د امت خیر پکې نغښتی وي او په واسطه یې وکولای شو د جهاد پاکه لاره همداسې پاکه وساتو او په دې لاره کې د بهېدونکو وینو سره له خیانت څخه خلک راوګرځوو.

النازعات: محترم ابو اسامه! ستاسې د بیان له مخې په شام کې چې له جهادي مشرتابه څخه کوم انحرافات شوي دي، ستاسې په نظر د هغو لاملونه او اسباب څه دي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق: زما په اند له سمې لارې څخه د دغه ډول انحراف لاملونه، د صهیونیستي او صلیبي لوېدیځ په هغه بې ساري مکر، فریب او دوکه کې نغښتي دي چې د خپلو سیمه ییزو قطري او ترکي پراکسي اجنټانو له لارې یې په شام کې د مجاهدینو له مشرتابه سره ترسره کړل. د دې کار په پایله کې، په شام کې د مجاهدینو قیادت له خپلو هغو اکابرو او مشرانو جهادي قائدینو سره فکري، منهجي او تنظیمي اړیکې پرې کړې چې په اصل کې همدا د جهادي کاروان لارښوونکي وو او دوی یې لومړی عراق او بیا شام ته راوستلي وو. له بده مرغه، لوېدیځ د خپل دغه مکر او غولونې په وسیله په خپل دغه پلان کې بریالی شو، کوم چې هغوی له «القاعده تنظیم سره د تړاو پرې کولو» په نوم یاد کړ؛ خو دا کار په حقیقت کې د ورونو ترمنځ د فکري، منهجي او تنظیمي اړیکو د بشپړ له منځه وړلو په معنی و. لکه څنګه چې ما وړاندې وویل، صهیونیستي او صلیبي لوېدیځ په اوسني عصر کې د شیطان د ښکاره مظهرونو څخه یو مظهر دی، چې تر ټولو ستر ماموریت یې د مېړه او مېرمنې ترمنځ جلاوالی راوستل، ورور له ورور سره جنګول، د مور او پلار پر وړاندې د اولادونو راپارول او د تنظیم د غړو هڅول دي ترڅو د خپلې مخلصې ډلې او هغو ځان بښونکو قائدینو مخالفت وکړي چې د دوی لپاره د یوې خوندي پناه ګاه حیثیت لري. د دغو موخو او چارو د ترلاسه کولو لپاره له شیطان سره د حیلو، بهانو او بې ځایه عذرونو هیڅ کمی نشته؛ نو ځکه، هر څه چې پېښ شول خلاصه یې د دغه تاریخي پړاو د ډېرو څارونکو او مبصرینو لپاره په بشپړه توګه روښانه او معلومه ده.

«لوېدیځ په ترکیه او قطر کې خپلو ایجنټانو ته دا دنده وسپارله او د الجزیرې ټلویزیون ځینو رسنیزو کارکوونکو ته یې مسؤولیت ورکړ. دغو کسانو پخوا په دې سیمه کې د جهادي ډلو له مشرانو سره د استخباراتي کار تجربه درلوده. هغوی ته مسؤولیت ورکړل شو چې د لوېدیځ دا پلان نه یوازې په شام کې، بلکې په یمن، شمال لوېدیځې افریقا او سومالیا کې د شته ورونو مخې ته هم کېږدي. په دې پلان کې د غټو مالي او مادي مرستو د ورکړې ترڅنګ، دا ډاډ هم ورکړل شوی و چې له دې وروسته به دوی نه څارل کېږي او نه به په بې پیلوټه (ډرون) الوتکو ویشتل کېږي. همدارنګه په دې شرط کې دا هم شامل وو چې دوی به په سیمه کې د امنیت په ساتلو کې تر یو حده منل کېږي.

نو په شام کې ورونو دا زړه راښکونکی وړاندیز ومانه، خو په یمن، شمال لوېدیځې افریقا او سومالیا کې ورونو دا لوبه د جهاد راتلونکي ته یو خطر وګڼله او ویې نه منله. په همدې کې د شام د مشرتابه اصلي انحراف پټ دی.

دلته ستاسې د معلوماتو لپاره باید ووایم چې د «اړیکو پرې کولو» یا «جلاوالي» وړاندیز تر ټولو لومړی پخپله د القاعده امیر ډاکټر ایمن الظواهري کړی و، خو په دوو شرطونو: لومړی دا چې په شام کې د مجاهدینو ترمنځ یووالی راشي او دویم دا چې هلته یو اسلامي حکومت جوړ شي چې په ترڅ کې یې د شام خلک د ځان لپاره یو امیر وټاکي. یوازې له دې وروسته (نه تر دې وړاندې) القاعده خپل تنظیمي تړاو پرې کاوه، په شام کې یې ورونو

ته مبارکي ورکوله او له هغه وروسته به زموږ ترمنځ یوازې اسلامي او جهادي ورورولي پاتې کېده.

په هغه وخت کې د شام قیادت د دغو دواړو شرطونو له پوره کولو وړاندې لا، د «جلاوالي او اړیکو پرې کولو» پرېکړه وکړه او د هغې اعلان يې هم وکړ. خو له دې هم مهمه خبره دا وه چې په اصل کې څه پېښ شول، هغه یوازې یو تنظیمي جلاوالی نه و، بلکې هر ډول اسلامي، فکري، منهجي او تنظیمي اړیکې يې په بشپړه توګه له منځه یوړلې. همدا علت و چې د شام قیادت د خپلو څو تنو پېژندل شویو غړو په واسطه، پر خپلو هغو پخوانیو مشرانو او غړو باندې توند او پرله پسې بریدونه پیل کړل چې له القاعده سره پر خپل پخواني بیعت باندې کلک ولاړ وو. هغوی د خپلو رسمي ویاندویانو له لارې په ښکاره توګه د القاعده له نورو څانګو، په ځانګړې توګه د یمن او شمال لوېدیځې افریقا له څانګو څخه وغوښتل چې خپله بیعت مات کړي، تړون او عهد پرېږدي او د یوې سختې غدارۍ اعلان وکړي. له همدې ځایه هغه انحرافات چې قطر او ترکیې په پوره ځواک سره پالل، لا پسې پراخ او زیات شول؛ او موږ یوازې الله سبحانه و تعالی ته شکایت کوو.

د شام په مشرتابه کې د دغه انحراف د منلو، پرې د ډاډه کېدو او د هغه د دوام یو لامل هغه نظریاتي او منهجي فشار دی، چې له دوی څخه ډېری کسان ورسره مخ شوي وو. دا یو داسې چاپېریال و چې د سمو او معتدلو افکارو د ودې لپاره بیخي مناسب نه و؛ په ځانګړې توګه هغه نظریات چې په «بوکا ښوونځي» (یعني په عراق کې د امریکایانو په کیمپ یا بوکا قیدخانې) کې پیدا او پالل شوي وو او دوی بیا له هغو افکارو سره همغږي شول چې په «صیدنایا ښوونځي» (یعني په شام کې د بشارالاسد د صیدنایا زندان) کې چمتو شوي وو. زه په دې یقین لرم چې په بندخونو کې د ظلم او ستم د فشار لاندې د دغه منهج او فکري او نظریاتي ګډوډۍ یو لوی نظریاتي او منهجي ټکر رامنځته کړ، چې د هغې خاورې او غبار د شام د انقلاب له پیل څخه پورته شو او په تېرو کلونو کې خورا لوړ اوج ته ورسېد. د عراق د بوکا له زندان څخه د فارغو شویو کسانو فکر او د شام د صیدنایا له زندان څخه د سند په ترلاسه کولو سره د راوتلو کسانو سوچ، یو ځای شو او د داسې یو نوي ذهنیت د رامنځته کېدو لامل شو چې په منهج، فکر، نظریاتو او عملي تطبیق کې يې له انحراف سره د ځان برابرولو بشپړه وړتیا درلوده. په شام کې د سخت غبرګون له امله د شام د خلکو پر شعور باندې د دغو انحرافاتو اغېزې لا پسې زیاتې شوې، چې له هغه وروسته د عراق او شام پر ځینو برخو باندې د داعش ډلې کنټرول ترلاسه کړ او د بې ګناه خلکو د وینې تویدو روږدي شول. د دغه وضعیت په رامنځته کېدو کې تر ټولو مهم لاملونه د عزیمت له لارې څخه لیرې کېدل، د الهي احکامو په پر ځای کولو کې د شرعي رخصتونو او رعایتونو په پام کې نه نیول او د اړتیاوو او ضرورتونو په پلمو د ډېرو منع شویو کارونو ترسره کول وو. په دې ټولو کې تر ټولو لوی جرم د مخالف نظر لرونکو کسانو د وینې تویدو جرئت و. دا کوم پټ راز نه دی چې د دغه ډول «بوکا ــ صیدنایي» ذهنیت شتون او د هغه خاوندان په خپلو قانوني، تنظیمي او ټولنیزو پرېکړو کې د دې اغېزې، په نړۍ کې د هیڅ یو انساني ملت لپاره برم او عظمت نشي پیدا کولای او نه هم د هغه ملت لپاره د ویاړ لامل ګرځېدای شي. له همدې امله زه باور لرم چې د شام قیادت به خپل فکري او نظریاتي توازن او پر سم منهج باندې استقامت بېرته ترلاسه نکړای شي؛ او د دغه مشرتابه لپاره به دا ممکنه نه وي چې خپل بندي شعور له «فکري ګوانتانامو» او «نظریاتي زندان» څخه ازاد کړي، پرته له دې چې کومه لویه پېښه رامنځته شي چې دوی له هغو «دوستانه» او «ورونو» هېوادونو څخه جلا کړي چې دوی ورپسې زړه تړلی او د هغوی په غېږ کې يې ځانونه وراچولي دي. زه داسې نه انګېرم چې د ناصحانو نصیحت او لارښوونه به د هغوی د توازن او استقامت په بېرته راګرځولو کې کوم مهم رول ولوبوي، که څه هم د نصیحت او لارښوونې فریضه سرته رسول اړین دي؛ خو د اکثریت انسانانو معمول همدا پاتې شوی چې هغوی د تباهۍ او هلاکېدو تر سهار پورې په نصیحت باندې نه پوهېږي.

النازعات: محترم استاد! شاید تاسې پوهېږئ او درک کوئ چې د شام ولس د القاعده تنظیم او د هغې د نظریاتي او تحریکي پرېکړو په اړه خورا ډېر او مهم تحفظات لري. د شام د ډېرو انقلابي ځوانانو ترمنځ دا خبره عامه ده چې القاعده د خپلو موخو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلې او د جغرافیې او تاریخ پر څنډه ولاړه ده. دوی د دې کار علت د یو داسې غیر منطقي او غیر حقیقت پسندانه نظریې پورې تړل ګني، چې هغه د «عالمي جهاد» نظریه ده. په داسې حال کې چې د شام خلکو له «سیمه ییز او ځایي جهاد» سره د تړاو له لارې په یوازې یوولسو ورځو کې هغه څه ترلاسه کړل چې القاعده په دېرش کلونو کې د خپل نړیوال جهاد له لارې په ترلاسه کولو کې پاتې راغلې

وه. نو محترم ابو اسامه! ایا د خپل سیمه ییز او ځايي جهاد له لارې د شام د خلکو د دغې لويې بريا له ليدلو وروسته، له نړيوال جهاد سره د القاعده د تړاو د ګټورتيا په اړه ستاسې نظر بدل شوی دی؟

استاد عبدالعزيز الحلاق: زما ګرانه وروره! زه تاته په ډاګه او صفا وايم چې د دمشق له ازادۍ وروسته، د ځو داسې لاملونو له امله چې زه يې په بل فرصت کې درسره شريکولای شم، له نړيوال جهاد سره زما ژمنتيا، تړاو او وفاداري لا پسې زياته او پياوړې شوې ده. خو د دې معنی دا نه ده چې زه د نوي شام د سوځولو او د صهيونيستي – صليبي لوېديځ سره د يوې نړيوالې جګړې په بټۍ کې د هغه د ورغورځولو غوښتنه کوم، په داسې حال کې چې شام لا دمخه په خپلو وينو سور دی او د دې کار لپاره چمتووالی نلري. زما وروره! تاسې بايد پوه شئ چې په اوسني دور کې د نړيوال جهاد بيرغ پورته کونکو (يعني القاعده) هيڅکله دا غوښتنه نه ده کړې او نه يې هڅونه کړې چې شام دې د نړيوال جهاد پر مرکز بدل شي؛ پرته له دې چې هغوی د اسلامي شريعت د غوښتنو له مخې د لوېديځ، ختيځ او صهيونيستي نيواک څخه د شام د خاورې پر پاکولو او د نُصيري اسد حکومت د نسکورولو پر اړتيا ټينګار کړی دی. نه يوازې دا، بلکې د القاعده مشرانو لا د ۲۰۱۲ کال راهيسې د شام مشرتابه او په ځانګړې توګه جولاني صاحب ته نصيحت کړی و چې هغه ښکاره نښې او علامې پرېږدي چې څارونکو او مبصرينو ته دا تاثر ورکوي چې د شام جهاد له نړيوال جهاد سره تړلی دی.

که تاسې د شيخ ابو يحيی الليبي رحمة الله عليه هغه ليک وګورئ چې د شام د انقلاب په لومړي کال کې يې جولاني صاحب ته استولی و، نو تاسې ته به پوره پته ولګېږي هغه څوک چې د شام په خاوره کې د نړيوال جهاد له پلان سره راغلي وو، هغه پخپله جولاني صاحب او د هغه ملګري وو، چې تر عراقي فکري مکتب پورې تړلي وو. دا په داسې حال کې ده چې د القاعده مشرتابه هغوی له دې کاره منعه کول او ان پر هغوی يې ټينګار کاوه چې دښمنان بې اغېزې کړي خو هغوی داسې ونه وېروي چې د دښمن د پارېدو لامل شي.

بهر حال، په پورتني دليل کې هغه څه چې زما عزم او يقين لا پسې پياوړی کوي، دا دي چې زه هم د نورو خلکو غوندې د بشارالاسد د حکومت نسکورېدل او پر هغې د مسلمانانو بريا په خپلو سترګو احساسوم. خو په حقيقت کې، موږ د کوم انقلاب پوره بريا او فتحه نه ګورو او نه هم دا انقلاب او بريا، په تاريخ کې د ثبت شويو انقلابونو له معيارونو سره برابري کوي. ځکه له کومه وخته چې انقلابيانو دمشق ته د ننوتلو سره د هغه د ازادۍ اعلان وکړ، موږ په سمدستي توګه په سويلي شام کې د صهيونيستي قبضې مداخله او پر يوې لويې سيمې باندې د هغوی د قبضې اعلان هم وليد. د دې معنی دا ده چې د هيئت تحرير الشام لخوا غوره شوې د سيمه ييز او ځايي جهاد نظريه د ټول شام د ازادولو وړتيا نلري او نه هم په نړۍ کې د يو رښتيني انقلاب د بريا شرايط پوره کوي. پر دې سربېره، د هيئت تحرير الشام جهاد ته سيمه ييز او ځايي جهاد ويل هم د اعتراض وړ خبره ده؛ ځکه سيمه ييز او ځايي جهاد هغه جهاد ته ويل کېږي چې د ټولو هغو غاصبينو پر وړاندې وشي چې پر يو اسلامي هېواد يا سيمې يې بريد کړی وي.

په اوسنيو بېلګو کې د افغانستان، عراق، سوماليا او د شمالي افريقا د هېواد «مالي» جهاد او د شام نور جهادونه شامل دي. دغو ټولو په يو وخت کې پر خپل هېواد باندې د بريد کونکو ټولو نيواکګرو مقابله وکړه، چې په ځينو جبهو کې دوی د صليبي ائتلافونو پر وړاندې ودرېدل، چې په هغو ائتلافونو کې تر څلوېښتو زيات هېوادونه شامل وو، په داسې حال کې چې هغوی په خپله سيمه، ملک او چوکاټ کې دننه پاتې کېدل او جهاد يې کاوه. خو يوازې له يو نيواکګر يا د هغه له سيمه ييز ايجنټ سره جګړه کول او بيا د نورو لويو نيواکګرو پر وړاندې له جهاد څخه ډډه کول او يا د شام د خلکو پر وړاندې د هغوی د ظلمونو او جرمونو سره سره بيا هم د هغوی سره د ګډو اړيکو د جوړولو هڅه کول، زما په محدوده رايه کې، دا د هغه ځايي او سيمه ييز جهاد سمه بڼه نه ده چې تاسې يې بيان کوئ.

هو، له شرعي او فقهي پلوه دا جواز لرلای شي چې د ځينو پر وړاندې جګړه وشي او ځينې نور تر هغه وخته بې اغېزې وساتل شي ترڅو چې موږ هغوی ورو ورو له خپلې خاورې څخه وباسو. خو، له ټولو نيواکګرو څخه د هېواد د پاکولو لپاره د دغه ډول جهاد معرفي کول د يو ځايي او سيمه ييز جهاد په توګه، داسې يو څه دي چې زما په اند په حقيقت کې په شام کې تر سره شوي نه دي. له دې هم ورهاخوا، د هيئت تحرير الشام ځينو عراقي ويانديويانو خو لا له يو کال څخه زيات وخت وړاندې اعلان کړی و چې جهاد پای ته رسېدلی دی. او نن تاسې وينئ چې د شام د انقلاب نښې (يعني مشران) د روسي او امريکايي اشغال سره د اړيکو په عادي کولو تطبيع/ Normalization بوخت دي، او هغوی

په دې برخه کې د شام د ولس او اسلامي امت لخوا د مطرح کېدونکو ګڼو انديښمنوونکو پوښتنو ځوابونه په خپل سري او د خپلې خوښې په توګه لټوي.

کله چې هغوی د تېرو وختونو د کومې داسې تجربې او د خلکو د تشويش د کمولو د داسې يوې لارې په لټه کې شول چې د بهانې او حيلې په توګه ورڅخه ګټه پورته کړي، نو هغوی ته له صهيونيستي – صليبي لښکرکشۍ سره د ملګرتيا په برخه کې د سعودي له تجربې پرته بل څه په لاس ورنغلل. ال سعود له امريکايانو سره د شويو تړونونو له لارې خونديتوب او نظامي ځواک ترلاسه کړ. له همدې امله، نن موږ ګورو چې د شام د انقلاب نښې (يعني مشران) د محمد بن سلمان د ليدلوري (وژن ۲۰۳۰) په کاپي کولو او د هغو هېوادونو تر شا په منډو وهلو پسې خورا لېواله دي چې داسې هيڅ بريا يې نه ده ترلاسه کړې چې امت پرې وياړ وکړي او يا په نړۍ کې د دغه امت مقام او منزلت لوړ کړي. که چېرې هغوی د چين يا جاپان د اقتصادي او صنعتي تجربې په لور تللي وای، نو دا کار له عقلي او شرعي پلوه خورا کامل او غوره و. او الله پر خپل کار غالب دی خو ډېری خلک پرې نه پوهېږي.

اوس زه چې څه ګورم هغه دا دي چې د سوريې له انقلاب سره تړلي زموږ ورونه، د نظامي او سياسي تړونونو له لارې په خپله خاوره باندې د اشغال او نيواک منلو او له نيواکګرو سره د اړيکو د عادي کولو په لاره روان دي؛ داسې تړونونه چې هغو لويو نيواکګرو قدرتونو او پوځونو ته ــ چې د شام له انقلاب څخه وېرېږي د شام په خاوره کې د هغوی په اډو او پنډغالو کې د پاتې کېدو اجازه ورکوي. ښايي هغوی پر دې باوري شوي وي چې د سعودي عربستان د شاهي هېواد تجربه په دې برخه کې تر ټولو مهمه تجربه ده، په کومه کې چې د نظامي خونديتوب د تړونونو په پلمه د حرمين شريفين په خاوره کې صهيونيستي – صليبي شتون ته قانوني بڼه ورکړل شوه. په داسې حال کې چې په حقيقت کې، دا د اسلامي هېوادونو او د مسلمانانو پر خاوره باندې يو ښکاره او څرګند اشغال دی. او داسې ښکاري چې د شام د انقلاب د مشرانو لخوا د دغه ډول ذلت آميزه تګلارې د غوره کولو لامل دا دی چې د انقلاب د ډېری مشرانو ذهنيت د «جالوتي کمپليکس» ښکار شوی دی، چې دا يو پخوانی سياسي شعار دی:

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ
(سورة البقرة:۲۴۹)

«نن له موږ سره د جالوت او د
هغه د لښکرو سره د جنګېدو
هيڅ ځواک او توان نشته.»

زه تاسې ته په ډاګه او صفا وايم چې بې شکه وخت به هغه ټول کسان چې د اسلام د سرلوړۍ لپاره په رښتينې توګه کار کوي، د القاعده د پيغام او منهج منلو ته اړ کړي؛ خو دا اړينه نه ده چې هغوی ټول دې په القاعده تنظيم کې مدغم شي او يا دې د هغې له څانګو سره يو ځای شي. د دې علت دا دی چې زه په دې يقين لرم چې د القاعده پيغام او منهج، يو مستند قرآني منهج او تګلاره ده چې بنسټ يې پر قرآن او سنت او پر هغې نقل باندې ولاړ دی چې له سم عقل سره پوره موافقت او سمون لري. دا يو داسې منهج او چلند دی چې په دنياوي ژوند کې د ملتونو د عروج او زوال لپاره ټاکل شوي کائناتي اصول او د الله سبحانه و تعالی سنت او تګلاره په پام کې نيسي. او يوازې الله تعالی سمې لارې ته لارښوونه کونکی دی.

النازعات: په حقيقت کې محترم ابو اسامه! تاسې د نړيوال جهاد په اړه زما په ډېرو تصوراتو او د سيمه ييز او ځايي جهاد په تړاو زما په ذهن کې چې کوم فکرونه پاخه شوي وو، په هغو کې سخت ګډوډۍ او خلل راوست. زه غواړم چې تاسې ماته او نورو مينه والو ورونو ته، په يو ساده او اسانه پوهېدونکي انداز کې د القاعده د منهج له مخې د نړيوال جهاد نظريه تشريح کړئ او دا هم ووايئ چې دا د نورو جهادي ډلو د ځايي او سيمه ييز جهاد له نظريې څخه تر کومه حده توپير لري؟

استاد عبدالعزيز الحلاق: د دې پوښتنې ځواب خورا اوږد دی او ډېر اقتباسونه غواړي، همدا راز له ويونکي څخه د لا زيات وضاحت او تفصيل غوښتنه کوي چې ښايي د دې مرکې پاتې ټول وخت هم ونيسي. له همدې امله، څنګه چې تاسې زه دې موضوع ته داخل کړم، نو هيله ده اجازه راکړئ چې زه دلته د القاعده د پيغام، د نړيوال جهاد په اړه د هغې د نظريې او د اسلامي امت د اوسني بحران د حل لپاره د هغې لخوا د وړانديز شويو لارو چارو يو څه تشريح وکړم، کوم چې ډېری خلک پرې نه پوهېږي.

د نوولسمې پېړۍ په پيل کې د عثماني خلافت د ځواک او يووالي له منځه تللو او د شلمې پېړۍ په لومړيو کې د مسلمانانو د هېوادونو د وېشلو لپاره د صليبي جګړو د پيل او د مسلمانانو د خاورې له ټوټې ټوټې کېدو وروسته، د ښکېلاکګرې صليبي لښکرکشۍ پر وړاندې د مبارزې او مقاومت لپاره ګڼ شمېر

جهادي خوځښتونه راپورته شول. مجاهدینو راغلو ښکېلاکګرو او صلیبي ځواکونو ته پرله پسې ماتې ورکړې؛ خو د سپین پوستي نیواکګر (بهرني صلیبي ښکېلاک) له تش په نامه وتلو او د هغې په بدل کې د نسواري پوستي نیواکګر (دننه مرتدو ایجنټانو) له چمتو کولو او واک ته رسولو وروسته، دا جهادي بیداري تري تمه شوه او د هغې د پرمختګ سرعت کنټرول کړل شو.

په هغه وخت کې، اسلامي امت په ناخبرۍ او سادګۍ سره پر دغې فریب کارانه بریا باندې خوښي وښودله او د ازادۍ جشنونه یې ولمانځل؛ د هغوی ګومان دا و چې ګوندې ربښتنې ازادي، خپلواکي او عدالت یې ترلاسه کړی دی. خو دلته یو خورا مهم ټکی د پام وړ دی چې د نصرانیانو صلیبي لښکرو د خپل تاریخ په اوږدو کې د اسلامي امت د جهادي لارو د څارلو او د هغو د ژر مهارولو خورا لوړه ورتیا ښودلې ده؛ او معاصر تاریخ دا ثابته کړې ده چې هغوی د سیاسي ډیپلوماسۍ له لارې د خپلو نظامي ماتو د جبرانولو او بیا د هغو د یوې لویې ستراتیژیکې بریا په بدلولو کې خورا لوړ لاس لري.

په اسلامي هېوادونو کې د ازادۍ د جشنونو له لمانځلو وروسته، د مسلمانانو پرګنو او عامو خلکو ته دا احساس وشو چې هغوی په حقیقت کې د ازادۍ، خپلواکۍ او عدالت په څېر هیڅ شی نه دی ترلاسه کړی؛ بلکې دا نسواري پوستي ځایي مرتد ایجنټان، د بهرني صلیبي ښکېلاک په پرتله خورا توندلاري، کینه کښ او مجرم ثابت شول. هغوی په دې پوه شول چې دا ځایي حکومتونه چې خلکو ورته اسلامي ویل او لا یې هم اسلامي ګڼي او دا واکمنان چې پر اسلامي هېوادونو مسلط کړل شوي دي، دا ټول د مسلمانانو پر خاورو باندې د صلیبي لښکرکشۍ یوازې تش په نامه ایجنټان او د هغوی ګوډاګیان دي. په هغه وخت کې د جهادي خوځښتونو پام د دغو ځایي حکومتونو او د مسلمانانو د هېوادونو د واکمنانو پر وړاندې د جګړې لور ته واوښت او د ځایي او سیمه ییز جهاد نظریه راپورته شوه؛ چې په ترڅ کې یې د هر هېواد خلکو په خپل هېواد کې له خپلو واکمنانو او ځایي ظالمو حکومتونو سره د جګړې او مقابلې کلک عزم وکړ. خو د یوې اوږدې مبارزې او هڅو وروسته، هغوی د دغو حکومتونو په نسکورولو کې په بشپړه توګه پاتې راغلل؛ نو هلته ورته دا یقین حاصل شو چې دغه ځایي حکومتونه د کفر د مشر یعني امریکا او د هغو صلیبي ښکېلاکګرو هېوادونو لخوا په پوره توګه ملاتړ کېږي چې له دوی سره یې تړونونه کړي دي.

په هغه حساس پړاو کې، د جهادي تحریکونو ډېری غړي د شکونو، شبهاتو او فکري ګډوډۍ ښکار شول. له همدې امله له دوی څخه ځینو د دعوت او تبلیغ کار ته مخه کړه، ځینو په خپل منهج باندې بیا کتنه وکړه او فکري او نظریاتي شاتګ یې غوره کړ او خورا ډېرو کسانو د وسله والې مبارزې له لارې د دغو حکومتونو رانسکورول ناشونی کار وباله. په دې توګه له هغوی څخه ډېری کسانو سیاسي لارې غوره کړې، په ډیموکراتیکو ټاکنو کې یې ګډون وکړ، دغو ایجنټو حکومتونو او ګوډاګیو نظامونو ته یې شرعي مشروعیت ورکړ او هغوی یې په رسمیت وپېژندل او د هغوی تر چتر لاندې په پارلمان کې د اپوزیسیون د رول لوبولو لپاره داخل شول. نورو بیا د پوځي کودتاګانو یا ولسي پاڅونونو د رامنځته کولو لاره غوره کړه؛ په داسې حال کې چې ځینو نورو بیا پر خپل هماغه لومړني لیدلوري باندې ټینګار کاوه، یعني د وسلې پورته کول، د ځایي حکومتونو پر وړاندې جهاد کول او له هغوی سره تر هغه وخته جنګېدل ترڅو چې حکومتونه یې نسکور کړل شي.

د اسلامي امت کښتۍ چې په کومو فکري، سیاسي او ټولنیزو څپو کې ډوبېدونکې وه، د دغه سخت او سنګین بحران تر سیوري لاندې په اسلامي هېوادونو کې د القاعده تنظیم مشران راوینښ او لوی شول؛ او الله سبحانه و تعالی د هغوی په برخلیک کې لیکلي وو چې هغوی په ناڅاپي او غېرمتوقع توګه د شیخ عبدالله عزام رحمة الله علیه تر مشرۍ لاندې د افغان جهاد له کاروان سره یو ځای شي. افغان جهاد په پیل کې د افغانستان د کمونیستو واکمنانو پر وړاندې و، خو کله چې افغان مجاهدین د کمونیستي حکومت د نسکورولو اډانې ته نږدې شول، نو شوروي اتحاد د خپل ملګري او متحد حکومت د ژغورلو او پاتې کېدو لپاره راودانګل او په دې توګه د یو اشغالګر په توګه افغانستان ته داخل شو. هلته نو له هغوی سره یوه اوږده جګړه پیل شوه چې پوره یوه لسیزه یې دوام وکړ او دا جګړه د افغانستان په سوبه او بریا او همدا راز د هغه وخت د دوه قطبي نړیوال نظام د یو قطب یعني شوروي اتحاد د واکمنۍ په بشپړ نړېدو او نسکورېدو پای ته ورسېده. دې تاریخي پېښې په مجاهدو ځوانانو کې د راتلونکي هدف لپاره د مناسبې تګلارې په اړه د ذهن جوړونې، ژور فکر او څېړنې لاره پرانیستله.

په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د القاعده تنظیم ډېری مشران له اوږدو بحثونو، پوره غور او

فکري تدبر وروسته پر دې خبره متفق او همنظره شول چې د مسلمانانو د مقدساتو د ازادولو تر ټولو سمه او د پلي کېدو وړ لاره دا ده چې د دغو مرتدو ایجنټانو حقیقي باداران او مالکان په نښه کړل شي؛ ځکه همدا هغه کسان دي چې دا ګوډاګیان یې واک ته رسولي او پر موږ یې مسلط کړي دي. دا هغه دښمنان دي چې پخپله خو په خپلو پوځي اډو کې پټ ناست وي، خو زموږ خپل خلک او هېوادوال زموږ پر وړاندې د جګړې لپاره مخې ته کوي؛ په دې توګه هغوی په خپلو هوټلونو، هوايي اډو او په بحرونو کې په شته پوځي اډو کې نه یوازې دا چې خوندي پاتې کېږي، بلکې له هغه ځایه پر موږ بمباري هم کوي او زموږ کورونه نړوي. له همدې ځایه د نړیوال جهاد نظریه او تصور راپورته شو، چې په تېورۍ، تفکر او عملي ډګر کې یې ګڼ شمېر بنسټونه شامل دي. د دغې نظریې لومړی رسمي اعلان په ۱۹۹۶ میلادي کال کې وشو، کله چې شیخ اسامه بن لادن رحمة الله علیه له افغانستان څخه یو بیان جاري کړ چې سرلیک یې و: «د حرمین شریفین پر مقدسه خاوره باندې د قابضو امریکایانو پر وړاندې د جهاد اعلان: له جزیرة العرب څخه مشرکین وباسئ.» دا د ۱۴۱۶ هجري قمري کال د ربیع الثاني لومړۍ نېټه (د ۱۹۹۶ کال د اګسټ ۱۵مه) وه. شیخ اسامه رحمة الله علیه په دغه بیان کې دا واضحه کړه هغه دښمن چې موږ باید خپلې ټولې هڅې پرې راټولې کړو او پر وړاندې یې د جهاد اعلان کوو، هغه صهیونیستي صلیبي ائتلاف دی چې په اوسني دور کې د کفر تر ټولو ستر سرغنه او مشر دی. په دغه بیان کې ویل شوي وو چې:»

«ټولو په دې خبره اتفاق کړی دی چې «کله چې لښته کږه وي، نو سیوری یې نشي سیده کېدای.» له همدې امله، پر دغه تر ټولو مهم دښمن باندې د برید لپاره د پام رااړولو او تمرکز اړتیا ده، چا چې له څو لسیزو راهیسې اسلامي امت پر قومي هېوادونو او وړو وړو ملکونو باندې له وېشلو وروسته، په یو سخت بحران، ګرداب او لاره ورکوونکو دښتو کې اچولی دی. په اسلامي هېوادونو کې چې هر کله کوم د اصلاح او بېدارۍ دعوت راپورته کېږي، نو دا یهودي او صلیبي ائتلاف په سیمه کې د خپلو واکمنو ایجنټانو له لارې، په بېلابېلو طریقو سره د دغه اصلاحي دعوت د له منځه وړلو او ځپلو دنده هغوی ته سپاري. کله ناکله دا ائتلاف د وخت او ځای د مناسبت له مخې، دغه دعوت په یو وسله وال ټکر کې راګېروي او په خپل لومړني پړاو کې یې له منځه وړي. په اوسنیو حالاتو کې د ټولو مسلمانانو لپاره تر ټولو سمه تګلاره کټ مټ همغه ده چې علماوو کرامو ورته لاره ټاکلې ده؛ یعني د کفر د دغه مشر ــ امریکا ــ د لیرې کولو او ماتولو لپاره کار وشي چې پر ټوله اسلامي نړۍ یې غلبه موندلې ده او د کوچنیو زیانونو په زغملو سره د لویو زیانونو د مخنیوي او ترې د بچ کېدو فکر وشي، یعني د کفر پر تر ټولو لوی سرغنه باندې وار وشي. نو ځکه، که چېرې واجبات او شرعي دندې په خپل منځ کې یو له بل سره په ټکر کې راشي، نو په هغو کې باید تر ټولو مهم کار ته لومړیتوب ورکړل شي. دا کوم پټ او پناه راز نه دی چې د دغه غاصب امریکایي دښمن پر شا تمبول او ماتول، له ایمان راوړلو وروسته تر ټولو لومړی او مهم فرض دی او هیڅ بل شی پر هغه مقدم کېدای نشي.»

«په دغه بیان کې دا هم ویل شوي دي چې:

«پر دغه تېري کوونکي او بریدګر دښمن باندې بریا موندل او د هغه په شا تمبول، د مسلمانانو د ټولو پرګنو او طبقو له ګډون او یووالي پرته ناشونی کار دی؛ او دا چاره پر هر مالدار او غریب، لوړپوړي او ټیټ پوړي باندې په یو شان واجب ده. د دې ترڅنګ، د ځینو اختلافي او جنجالي مسائلو په پام کې نه نیول هم اړین دي؛ ځکه په دغه حساس پړاو کې د دغو اختلافي مسائلو د پرېښودلو زیان، پر اسلامي هېوادونو باندې د کفرِ اکبر یعني امریکا د ولکې، تسلط او د اشغال د دوام له زیان څخه خورا کم او ناچیزه دی.

په داسې یو حالت کې، پر هر مسلمان باندې لازمه ده چې د دغه بریدګر دښمن او د مسلمانانو پر خاورو د قابض کفرِ اکبر (امریکا) پر وړاندې د اسلامي امت د پاڅولو، هڅولو او خوځولو لپاره خپله ټوله ممکنه هڅه او توان په کار واچوي؛ هغه دښمن چې د مسلمانانو دین او دنیا دواړه تباه کوي. له ایمان راوړلو وروسته د دغه غاصب دښمن له ماتولو او شاته تمبولو پرته بل هیڅ کوم عمل ډېر واجب نشي کېدای. دا هماغه د اسراییلو او امریکا ګډ ائتلاف دی چې نن د حرمین شریفین او بیت المقدس پر مقدسه خاوره باندې قابض دی او ولکه یې پرې کړې ده. مسلمانانو ته باید دا نصیحت وشي چې د اسلامي امت د بېلابېلو ډلو، تنظیمونو او ولسونو ترمنځ په کورنیو او خپلمنځي جګړو کې له ښکېل کېدو څخه په کلکه ډډه وکړي؛ ځکه د دې کار پایلې خورا درنې او خطرناکې دي. د امریکایي اشغالګرو ځواکونو د شتون په حالت کې هر ډول خپلمنځي او داخلي جګړه، که هر څومره دلیل او شرعي جواز هم

ورته ووېل شي، يوه خورا لويه او سنګينه تېروتنه ده؛ ځکه دا ډول جګړې يوازې د دې لامل ګرځي چې د جګړې تله د نړيوال کفر په ګټه وڅرخېږي."»

په دغه بيان کې دا هم زياته شوې ده چې:

«دا خبره له تاسې څخه پټه نه ده چې اوسنې حالات د هغو منظمو وسله والو ځواکونو او د دښمن د لښکرو ترمنځ د نابرابرۍ او نشتون توازن ته په کتو، د جګړې د مناسبو او ځانګړو طريقو پر اړتيا ټينګار کوي. دا ډول معرکه او جګړه داسې سپکو او خورا ګړنديو ځواکونو ته اړتيا لري چې په بشپړ پټوالي او رازدارۍ سره خپل کار مخته وړي. په بل عبارت، دا د يوې چريکي جګړې غوښتنه کوي چې له منظمو وسله والو ځواکونو پرته نور عام مسلمانان هم وکولای شي پکې برخه واخلي.

تاسې پوهېږئ په دې پړاو کې د يو منظم وسله وال پوځ د داسې يوې تګلارې څخه ژغورل چې د صليبي دښمن له لښکرو سره په روايتي جګړه کې ښکېل شي، په اصل کې پوهه او د هوښيارۍ کار دی؛ خو دا چې د دغه منظم پوځ د غړو لخوا په جلا او انفرادي توګه خورا کلک او زړور بريدونه ترسره کېږي.

يعني منظم پوځونه پخپلو پخوانيو بڼو کې له خوځولو څخه وساتل شي، ترڅو د دښمن د غبرګون او ځوابي بريدونو دروند اغېز پر پوځ باندې ونه لوېږي؛ خو دا چې کومه لويه، برلاسې ګټه په پام کې وي او يا دښمن ته داسې يو لوی او ويجاړونکی ګوزار ورکول مقصود وي چې د هغه بنسټونه وران کړي، د هغه جوړښت او هېکل ولړزوي او د هغه په ماتولو او پر شا تمبولو کې پوره مرسته وکړي. د دې ترڅنګ د مسلمانانو د وينې د تويدو په برخه کې بايد تر ورروستي حده احتياط وشي، ترڅو زموږ لاسونه د مسلمانانو په وينو رنګ نه وي؛ که څه هم موږ پوهېږو چې نن ورځ پر اسلامي هېوادونو باندې کوم مصيبتونه او سختۍ را رواني دي او عام مسلمانان چې ذليل او سپکېږي، د دغو ټولو مصيبتونو پوره مسؤوليت پر همدغو حکومتونو باندې راځي؛ خو د دې ناروغۍ اصلي ريښه او د دغو ټولو مصيبتونو او دردونو اصلي سرغنه او مشر غاصب امريکايي دښمن دی. له همدې امله، زموږ هڅې بايد د هغه په وژلو، له هغه سره په جګړه کولو، د هغه په تباه کولو، د هغه په ماتولو، د هغه په ځارلو او د هغه لپاره په کمين کې په ناستې باندې متمرکزې وي، ترڅو چې هغه د الله سبحانه و تعالی په حکم سره ماتې وخوري او ان شاء الله هغه پړاو به هم راورسېږي چې تاسې مسلمانان به د مسائلو په هوارولو کې خپل رول ولوبوئ، ترڅو د الله کلمه لوړه شي او د کافرانو غرور، تکبر او واکمني خاورې ايرې شي؛ او تاسې به پر تېرې کونکو باندې په فولادي لاسونو سره کارنده ګوزارونه وکړئ، مسائل او چارې به خپل اصلي حالت ته بېرته وګرځوئ، حقونه به خپلو حقدارانو ته وسپارئ او خپله رښتينې اسلامي فريضه به سرته ورسوئ.»

(ادامه لري ان شاء الله)

****

## د نېکو عملونو سره سره بيا هم د الله تعالی څخه وېره

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته په هغه ورځ راغی چې هغه په نيزه ووهل شو (او د شهادت په حالت کې و) او ورته يې ووېل:

«ای اميرالمؤمنينه! تا هغه وخت اسلام قبول کړ چې خلک کافران و، له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره دې يوځای هغه مهال جهاد وکړ چې خلکو يې ملاتړ پرېښی و. رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې نړۍ څخه په داسې حال کې رحلت وکړ چې له تا څخه راضي و او ستا د خلافت په اړه دوو کسانو هم اختلاف ونکړ، ته به د شهيد په توګه له دنيا ځې»

عمر رضي الله عنه وفرمايل: «دا خبره بيا تکرار کړه.» ابن عباس رضي الله عنهما بيا هماغه خبرې تکرار کړې.

نو عمر رضي الله عنه وفرمايل:

«په هغه ذات قسم چې له هغه پرته بل معبود نشته، که د ځمکې پرمخ ټول سره او سپين (زر) زما وای نو ما به هغه ټول د قيامت د ورځې د لومړي حساب او د الله تعالی د حضور د وېرې څخه د ځان د خلاصون لپاره فداء (صدقه) کړي وای.»

المستدرک علی الصحيحين

لنډه کیسه

# يو کلنه پاچاهي او د راتلونکي تياري

په پخوا وختونو کې يو داسې ښار و چې د ښار خلکو به پاچا پخپله ټاکه او هغه به يې يوازې د يو کال لپاره پاچا يا واکمن جوړولو، کله چې به د پاچا د واکمنۍ موده پای ته ورسېده، نو هغه به يې يوې لرې ټاپو ته لېږه، څو خپل پاتې عمر هلته تېر کړي او خپله به يې د ځان لپاره بل پاچا ټاکه.

يو ځل د يوه پاچا د واکمنۍ موده پای ته ورسېده، خلکو ورته قېمتي جامې ورواغوستې، پر يوه لوی فيل يې سپور کړ او د ښار په کوڅو کې يې وگرځاوه او د مخه ښې مراسم يې ترسره کړل، دا شېبې د همدې پاچا او له هغه څخه د مخکينيو ټولو پاچاهانو لپاره د غم او درد له پلوه تر ټولو سختې شېبې وې.

وروسته يې هغه په يوه بېړۍ کې کښېناوه او هغې لرې ټاپو ته يې ولېږه، څو هلته خپل پاتې ژوند تېر کړي، بېړۍ بېرته ښار ته روانه شوه. د راستنېدو پر مهال يې يوه ډوبه شوې بېړۍ وليده او يو ځوان يې ومونده چې د لرگي په يوه ټوټه پورې نښتی او پر اوبو لامبو وهي د ښار خلکو هغه وژغوره او خپل ښار ته يې راوست.

د ښار خلکو ترې وغوښتل چې د يوه کال لپاره يې پاچا شي. ځوان مسافر لومړی انکار وکړ، خو وروسته يې ومنله. خلکو ورته د ښار قانونونه بيان کړل او ويې ويل چې له ۱۲ مياشتو وروسته به ته هم هماغې ټاپو ته ولېږدول شي، چې وروستی پاچا يې ورلېږلی و او خپل پاتې ژوند به دې همالته تېروې.

د واکمنۍ له پيل درې ورځې وروسته، ځوان پاچا له وزيرانو وپوښتل چې آيا کولی شي هغه ټاپو ووينې؟ وزيرانو ومنله او هغه يې ټاپو ته بوتلو. پاچا وليدل چې ټاپو په گڼو ځنگلونو پوښل شوی ده او د ځنگلي حيواناتو وېروونکي غږونه پکې هر خواته اورېدل کېږي مطلب دا چې ټاپو په ټوله معنا له خلکو خالي او وحشتناک برېښېده.

هغه په ټاپو کې وگرځېده او د پخوانيو پاچاهانو مړي يې پر ځمکه پراته وليدل. پاچا پوه شو چې کله به پخواني پاچاهان ټاپو ته راوستل شول، نو ځنگلي حيواناتو به ووژل او وبه يې خوړل.

پاچا بېرته ښار ته ستون شو، سل تنه ځواکمن او قوي کارگران يې راټول کړل او ټاپو ته يې بوتلل. هغوی ته يې امر وکړ چې ځنگل پاک کړي، د حيواناتو او پخوانيو پاچاهانو پاتې شوني لرې کړي او بې ځايه ونې پرې کړي. پاچا به هره مياشت ټاپو ته تلو او د کار پرمختگ به يې په خپلو سترگو کتلو.



کار پـه چټکـۍ سره روان و لـه یـوې میاشـتې وروسـته، ډېـری مضر حیوانـات او ګنـې بـې ځایـه ونـې لـه منځـه ولاړې. پـه دویمـه میاشـت کـې ټاپـو بشـپړه توګـه پاکـه شـوه. بیـا پاچـا امـر وکـړ چـې پـه ټولـه ټاپـو کـې باغونـه جوړ کړي او ګټور حیوانات لکه چرګې، هیلۍ، وزې او غواګانې پکې وروزي.

د درېیمـې میاشـتې پـه پیـل کـې یـې کارګرانـو تـه امـر وکـړ چـې یـو لـوی کـور او د بېړیـو لپـاره یـو بنـدر جـوړ کړي. وخت تېر شو او ټاپو په یوه ښکلي ځای بدل شو.

پاچـا هوښـیار و؛ پـه ښـار کـې بـه یـې سـاده جامـې اغوسـتې او پـر خپـل ژونـد بـه یـې لـږ لګښـت کاوه، خـو هغـه مال او شتمني چې ورته ورکړل شوې وه، ټول یې د ټاپو په ابادولو لګول.

کلـه چـې نهـه میاشـتې تېـرې شـوې، پاچـا وزیـران راوغوښـتل او ویـې ویـل: «زه پوهېـږم چـې بایـد د واکمنـۍ لـه پیل څخه ۱۲ میاشتې وروسته ټاپو ته ولاړ شم، خو غواړم همدا اوس ولاړ شم.»

وزیرانو وویل: «د قانون له مخې باید درې نورې میاشتې هم انتظار وباسې.»

درې میاشـتې نـورې هـم تېـرې شـوې او د پاچـا د واکمنـۍ یـو کال بشـپړ شـو، خلکـو بیـا هـم هغـه تـه ښـکلې جامې ورواغوستې، پر لوی فیل یې سپور کړ او ورته یې ویل: «خدای پاماني، ای پاچا!»

خو دا پاچا، د پخوانیو پاچاهانو پر خلاف، خندل او موسکېده. خلکو ترې وپوښتل: «ولې خاندې؟»

هغـه وویـل: «پوهـان او حکـیمان وایـي: کلـه چـې تـه پیـدا شـې، تـه ژاړې او سـتا شـاوخوا ټـول خانـدي؛ نـو داسـې ژوند وکړه چې کله مرګ درته راشي، ته وخاندې او ستا شاوخوا خلک وژاړي.»

هغـه زیاتـه کـړه: «پخـواني پاچاهـان د خپلـې واکمنـۍ پـر مهـال د مـال او ښـار پـه خوندونـو بوخـت وو، خـو مـا د راتلونکـي پـه اړه فکـر وکـړ، مـا پلان جـوړ کـړ، ټاپـو مـې ورغولـو او پـه یـوه کوچنـي جنـت مـې بدلـه کـړه، څـو خپل پاتې ژوند پکې په ارامۍ او راحت سره تېر کړم.»

لـه دې کیسـې څخـه زده کـوو چـې دا دنیـا د آخـرت کرونـده ده، مـوږ بایـد د دنیـا پـه خوندونـو کـې دومـره ډوب نـه شـو چـې آخـرت هېـر کـړو، کـه څـه هـم ژونـد مـو د پاچاهانـو وي. بایـد سـاده ژونـد وکـړو او د خپـل ابـدي ژونـد او کور په لور تیاری وکړو.

اللهـم ارحـم في الدنیـا غربتنـا، وارحـم في القبـور وحشـتنا، وارحـم موقفنـا غـداً بین یدیـك، واجعلنـا مـن عبـادك الذین یستمعون القول فیتبعون أحسنه.





# په مرمیو باندې مینه کړئ!

(د پاکستان پوځي ادارو ته چې غواړي د مرمۍ په زور باندې خلک د ځان تابع او مینوال کړي)

معاذ ابراهیم زی

له تېرې یوې میاشتې راهیسې په کرفیو کې یعني له لیدلو سره سم د قتلولو 'عملي' امر، نیونې، په هر ځای کې تالاشۍ، تر دې چې د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو د خوراکي توکو لکه د اوړو پر لېږد او رسولو هم بندیز دی. دا د فلسطین یا د غزې خبره نه کېږي او نه هم دا د هند تر ولکې لاندې د جمو او کشمیر ذکر دی، بلکې دا د ازاد کشمیر یادونه ده!

په ۱۹۴۷ کال کې د پاکستان له جوړېدو څو اونۍ وروسته، سیمه ییزو مجاهدینو د مهاراجه هري سنګ په ولکه کې د «کشمیر ریاست» د ازادولو لپاره جهاد پیل کړ، چا چې له هند سره د یوځای کېدو پرېکړه کړې وه او د څو اونیو سرښندنو او هڅو په پایله کې په پونچ او بیا راجوري ولسوالۍ کې دغو مجاهدینو ته د الله له لوري بریا په برخه شوه.

له دغو ځانګړو کشمیري مجاهدینو سره د پاکستان له قبایلي سیمو څخه راغلي مجاهدین هم ملګري شول او وروسته د پاکستان د پوځ سره مربوط عسکر هم په دغه جهاد کې شریک شول. د کم او زیات یو کال جهاد په پایله کې د کشمیر درېیمه برخه سیمه ازاده کړای شوه چې نن پکې د پاکستان په شمالي سیمو کې ګلګت بلتستان او داسې نور او د ازاد جمو او کشمیر د ریاست تر ولکې لاندې د مظفر اباد، باغ، کوټلي، میرپور، بهمبر، راولاکوټ، حویلي او سدنوتي سیمې شاملې دي.

تاریخي روایت ښیي چې دا مجاهدین، چې د هغه وخت د پاکستان د پوځ سرتېري هم پکې شامل وو، سرینګر ته ننوتي وو. دا مجاهدین د سرینګر پر هوایي ډګر هم قابض شوي وو، چې د پاکستان د پوځ او حکومت «لوړپوړي قومندانۍ» د لومړي ځل لپاره د دغو مجاهدینو د یوازې پرېښودلو پرېکړه وکړه. په پایله کې د نن ورځ سرینګر، د کشمیر درې ډېره برخه د جمو او لداخ ډېره برخه د هند په ولکه کې پاتې شول، چې د کشمیر دوه پر درېیمه برخه جوړوي.

د ۱۹۴۹ کال په پیل کې د پاکستان او هند حکومتونو د اوربند اعلان وکړ، چې له مخې یې د ازاد شوي او تر ولکې لاندې کشمیر ترمنځ د اوربند کرښه جوړه شوه. دا کرښه وروسته د ۱۹۷۲ کال په شملې تړون کې د لاین آف کنټرو (Line of Control) په نوم ونومول شوه. کوم چې د پاکستان د قیام په وخت کې د شاه رګ حیثیت درلود، هغه کشمیر نن «مسئله کشمیر» جوړ کړل شوی دی. بقولِ اقبالِ لاهوريؒ:

آج وہ کشمیر ہے محکوم و مجبور و فقیر

کل جسے اہلِ نظر کہتے تھے ایرانِ صغیر

«نن هغه کشمیر دی محکوم، مجبور او فقیر

پرون چې د اهلِ نظر په ژبه و ایرانِ صغیر»

وړاندې تر دې چې مخکې لاړ شو، دلته د «جهادِ کشمیر» د پرېښودلو پر خبره باندې لږ تم کېدل اړین دي. بلکې د دغه پرېښودلو د نظریې یا ابن الوقتي (فرصت طلبۍ) او یا هم د غدارۍ څو نورې بېلګې په خورا لنډ ډول کتلو ته اړتیا شته.

ووهي، ولسونه د اصلي دښمن له ليدو څخه په بابېزه کړنو اخته کړي[11]، سيمه بيا په بې ګټې ورو دولتونو او امارتونو ووېشي، څو په اسانۍ سره لوبې پرې وشي. همدارنګه تر څو شتمنۍ غصب کړي، پر سمندري او ځمکنيو سوداګريزو دهلېزونو ولکه وکړي، د توحيد په خاوره کې د الحاد بلنه خپره کړي، د سيمې اوسېدونکي په ساتېريو، بې شرميو او فحاشيو فاسد کړي، د ښځينه او نارينه همجنسبازانو ملاتړ او د لوېدلي فطرت د خاوندانو يا فيمنيستانو مرسته وکړي. دا ټولې او له دې پرته نورې موخې د پله سر، د الوتکو وړونکو او سمندري سترو بېړيو ته اړتيا لري، تر څو پوره شي. په لنډه توګه که ووايو يهودي وجود او په سيمه کې يې صهيونيستي سپانسر د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې هر اړخيزه جګړه ده او صهيونيستان اصلي دښمنان دي، که څه هم نومونه يې توپير ولري (يهوديان - اروپايان - امريکايان - عرب رژيمونه... او نور).

له همدې مخې، له نسلونو څخه يو بل ته پاتې ځينې ديني سببونه شته چې پخوا د صليبي حملو له خوا څرګند شوي دي، دا سبب له شک پرته په امريکا کې مسيحي صهيونيستي تصور دې ته چمتو کوي چې پراخ ملاتړ يې وکړي، لکه هلاک شوي (لينډسي ګراهام او د هغه ورونو) چې کول. ديني سببونه تل د نسل وژنې اصلي محرک و چې په ټول تاريخ کې ترسره شوي او نن ورځ ترسره کېږي.

د فلسطين د ستراتيژيک موقعيت اړوند ځينې جيو سياسي او اقتصادي سببونه هم شته. فلسطين يو ځمکنی دهلېز دی چې ختيځ او لوېديځ سره نښلوي، ساحلونه يې د مصر او شام له پاتې برخې سره د سره او مديترانې د سمندرونو له لارې د لوېديځ لپاره له ختيځ څخه د تېرېدو دروازه ده. بې له شکه همدا دوی ته د خپلو اقتصادي او سياسي ګټو د خوندي کولو لپاره د ولکې انګېزه ورکوي، تر څو د خليج پر نفتو د روسيې او نورو هېوادونو د هيلو مخنيوی وکړي، په عربي بازارونو کې د چين ونډه محدوده کړي او د بدلون لپاره هر ډول داخلي انقلابونه ختم يا يې لوری کوږ کړي.

خونخوار (نتنياهو) او د هغه تشنج خپروونکي فتنه ګر د اکتوبر په اووم (مبارک) د غزې د خلکو په وړاندې د نسل وژنې په دوام او د جنګ د دايرې د پراخولو په هڅه کې د مسلمانانو د پارولو د هڅې په کولو سره د خپلې ناکامۍ د جبرانولو لپاره برابر فرصت ترلاسه کوي، مخلوری د سيمه ييزې جګړې او شايد تر دې د هاخوا (نړيوالې جګړې) په لور ګرځوي، له اوسني وضعيته د ګټې اخيستنې لپاره په بشپړ ډول کار کوي، تر څو په منځني ختيځ کې خپل دښمنان له منځه يوسي، مخکې له دې چې ځينې ملتونه چمتووالی ونيسي او ځينې نور را بيدار شي. دغه کار د دې لپاره کوي چې سيمه بيا ووېشي، د خپلو وهمونو ځمکه (له نيل څخه تر فرات پورې) اشغال او هيکل جوړ کړي. دا د خونخوار (نتن ياهو) تر ټولو غوره خوب دی او که څه هم نړيوال صهيونېزم د جګړې د اورونو په بلولو او تازه کولو کې ماهر دی، په ځانګړې توګه د خپلو دښمنانو تر منځ او د هغو بدلون غوښتونکو خوځښتونو يا کمزورو هېوادونو تر منځ چې له دوی سره مخامخ دي، تر څو هغوی ټول وځپي او کمزوري يې وساتي، لکه په اوکراين کې چې وشول، خو پايله به هېڅکله د دوی په خوښه نه وي.

په تېره پېړۍ او د دې پېړۍ په پيل کې له ډېرو تجربو او په تېره بيا په افغانستان کې له ډېرو تجربو وروسته داسې ښکاري چې لوېديځ او ورپسې امريکا دې ستراتېژۍ ته رسېدلي چې په جګړو کې له مستقيمې ښکېلتيا څخه ډډه او پر ملاتړ، تمويل او په ځواک سره پر لاربنوونې باندې بسنه وکړي، تر څو دښمن له پوځي پلوه وځپي، له اقتصادي پلوه يې استهلاک او له سياسي پلوه يې ګوښه کړي، لکه صهيوصليبي لوېديځ چې په اروپا او امريکا کې د نفوذ له لارې د خپل نرم ځواک په کارولو سره دغه کار کوي، تر څو خپل مخالف په ټولنيزه توګه مات او په ايډيالوژيک ډول ووېشي، څو يې داخلي يووالی او ډېری ځواک ور ختم کړي، نو په وروستي پړاو کې په اسانۍ سره کولی شي چې له منځه يې يوسي. همدا ستراتېژي صهيوصليبي لوېديځ له هغو وېروونکو زيانونو څخه ژغوري(مار به مردار شي او ډانګی به روغ پاتې شي)، لکه امريکا چې په افغانستان کې دوه ټريليونه ډالره زيان کړل، شرمووونکي بشري زيانونه خو پر ځای پرېږده.

دا ستراتېژي د روسيې او اوکراين په جګړه کې په بشپړه توګه وينو، چې اوکراين پر داسې محاذ بدل شوی چې لوېديځ په کې د ختيځ پر وړاندې

---

۱۱ - رژيمونه څومره پرېوتي دي چې د مصر او الجزاير تر منځ د فوټبال پر سر کرکه خپروي! په داسې حال کې چې دا له ياده ايستل کېږي چې الجزاير د روژې د لسمې په جګړه کې د مصر تر ټولو لوی ملاتړی و؟!!

له ځانه دفاع کوي او لوېدیځ پرته له دې چې په اوکراینې پوځ کې د پراخ فساد کچه په پام کې ونیسي، ټول د اړتیا وړ وسلې او پیسې ورکوي. مګر دا جنګونه کېدی شي ټول د ناورینونو پر لور بوځي، ځکه نږدې ده چې امریکا اوکراین ته د اوږد واټن توغندي ورکړي او دا ممکن نړیوالې جګړې ته لار هواره کړي، په ځانګړې توګه دا هغه څه چې له فضاء څخه جګړې ته د روسیې د چمتووالي په اړه ویل کېږي. مهمه نه ده چې په څومره احتیاط او هوښیارۍ سره حرکت کوئ؛ خو کله چې په میدان کې جګړې زور واخلي، د واکمنانو غرور ورسره مل وي او له غرور و تکبر سره دا نه شي ویل کېدی چې د جګړې دوره به څنګه وي او چېرته به پای ته رسېږي، خو د پایلو وړاندوینه یې کېدی شي، که پېښه شي... ناورین به وي... مګر د هغوی لپاره نه چې په مبارزه کې ښکېل نه وي

## د لنډولو په لور یو ګام دی[١٢]!!

همدا راز د فلسطین په اړه د لوېدیځ ستراتېژۍ هم ګورو، سره له دې چې خونخوار (نتنیاهو[١٣]) هڅه کوي د نوي سیمه ییز نظام د جوړولو لپاره په منځني ختیځ کې په شروع شوې جګړه کې امریکا ښکېله کړي، خو د امریکا او اروپا غبرګونونه یوازې هغه شان دي چې په اوکراین کې یې اقدام کړی دی. آن په سره سمندر کې پر عملیاتو او د یهودي کښتیو او بیا د برتانوي او امریکايي کښتیو پر وړاندې د باب المندب د تړلو په هڅه کې د سمندري سوداګرۍ پر ګواښ سربېره، لوېدیځ د ډېرې دلایلو له مخې په ځمکه کې له ښکېلېدو پرته پر بمبارۍ بسنه کړې ده او د دې ګڼ لاملونه دي چې ځینې یې دا دي: په جیبوتي کې د دوی پر خپلو پوځي اډو وېره؛ ځکه چې هغه د یمني ولس او صومالي مجاهدینو په لاس کې دي او دوی پوهېږي چې د یمن خلک جنګیالي او پر وسله سمبال خلک دي او که په یمن کې عرب صهیونیستانو د القاعدې مجاهدینو او یمنۍ قبیلې پر خپلو تېریو او بې ګټې جګړو بوخت کړي نه وای، نو د ایمان او حکمت له خاوندانو (یمنیانو) مرسته لیدلې وه چې زړه به یې خوشاله کاوه، نو د دې سیمې پر خلکو باندې د یهودانو، صلیبی غرب او د دوی له خوا د چلېدونکي صهیونیستي ماشین کرکه راکوټه شوې ده او د خلکو غبرګون د وخت خبره ده.

د ډاکټر عبدالوهاب مسیري د وینا لنډیز دی: اسرائیل یوازې د الوتکو وړونکی دریابې کښتۍ ده... اشغال به فلسطینیانو ته هېڅ ډول حقوق ور نه کړي... حللاره مقاومت دی(د طوفان اقصی د عملیاتو رقم)... د اسرائیلو زوال حتمي دی... کارګر صهیونیست خورا خطرناک دی.

اړینه ده چې دې ته اشاره وکړو، په باب المندب کې د یهودانو د ملاتړ لپاره د راروانو کښتیو د  ننبه کولو عملیات د صهیوصلیبي لوېدیځ حسابونه ګډوډ کړل او دې عملیاتو یوه داسې دروازه پرانیستله چې د سیمې نورو خلکو ته الهام وربښي، څو د امریکا او لوېدیځ د ګټو پر ضد پټ عملیات وکړي، هغه که په سیمه کې وي یا په لوېدیځ کې او یا په هر هغه ځای کې چې د هغوی ګټې موجودې وي، که چېرته په ټینګې ولاړې غزې کې د مسلمانانو نسل وژنه دوام ومومي. د روژې د میاشتې په داخلېدو سره هغو ولسونو ته دغه ګام منطقي ګرځي چې له خپلو غدارو او په عیش و عشرت کې ډوبو واکمنانو څخه نهیلي شوي دي، یقینًا سبا به ډېر ژر ولیدل شي.

ان شاء الله ډېر ژر به ولسونه مجبور شي چې د خپل امت او د هغه د ګټو د دفاع په خاطر له متفرقه دریځ څخه لاس واخلي، بیا خپل هېواد آزاد کړي، د نظامي، سیاسي او رواني استعمار دوره پای ته ورسوي او بیدار شي، تر څو د نړۍ د رهبرۍ لپاره ورڅخه متوقع او خپل رښتینی رول ترسره کړي.

ادامه لري، ان شاء الله ...

---

١٢ - د چا تر منځ؟ یا له څه سره؟ آیا د پخوانیو پیاوړو او کمزورو تر منځ؟ که د انسانیت د پختګۍ لپاره تر څو له یو بل سره د اوسېدنې داسې نظریه وضع کړي چې جګړه محدودوي؟ که په نړۍ کې مشرتابه ته د اسلام او مسلمانانو د راستنېدو لپاره؟

١٣ - خونخوار (نتنیاهو) په سیمه کې د یهودانو راتلونکي ته د هر ډول ګواښ د له منځه وړلو لپاره فرصتویني، همداراز د سیکو او بیکو له وېش وروسته د سیمې د هېوادونو د بیا وېشلو فرصت ویني. آیا خونخوار نتن یاهو به یو بې پروا پوځي اقدام وکړي چې په پایله کې یې سیمه په یوه پرانیستې جګړه کې ښکېله شي او ورپسې امریکا او د هغې اروپايي لکۍ جګړې ته راکش کړي؟، ما ته لرې نه ښکارېږي، ځکه چې په اوکراین او فلسطین کې د نړیوالې جګړې ډهولونه په درز وهل کېږي او د ډېرو ناچیزه او بابېزه اسبابو له امله وهل کېږي.




# انقلابي حکومت

## باید انقلابي پرېکړې وکړي!

**په یوه غونډه کې حکومت او د لوړو زده کړو وزارت ته د کلمات تحقیقاتي ادارې د مسؤول مفتي سیف الله معتصم ځینې توصیې**

په دوهم قدم کې د لوړو زده کړو وزارت ته مسئولیت متوجه دی. تر اوسه پورې موږ د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې باید ځانګړی پوهنتون لرلای. د مصنوعي ځیرکتیا لپاره مو باید ځانګړی پوهنتون لرلای او دا پرېکړه شوې وای چې زموږ اولویتونه کوم دي، هغه مو کټګورۍ کړې وای اولویت ته په کتلو سره مو په هغه برخه کې پانګونه کړې وای.

زه یوه یادونه کوم؛ هر انقلابي حکومت باید انقلابي پرېکړې وکړي. هغه د نورو هېوادونو له شور، یا د ځینو هغه خلکو له شور نه چې فهم نلري، باید وېره ونه لري. زه یو مثال درکوم، دلته دا مثال ځکه درکوم چې د رسنیو استازي هم شته، د نظام استازي هم شته، او کېدای شي داسې اشخاص وي چې زموږ دا غږ تر مسئولینو پورې ورسوي:

مشرقي زون ننګرهار، کنړ، نورستان، لغمان څلور واړه پوهنتونونه لري. خو داسې پوهنتونونه شته چې هلته د پوهنتونونو له استادانو څخه د کارمندانو تعداد زیات دی. اوس موږ او تاسو باید دغه پانګونه د نورستان په پوهنتون وکړو که د ننګرهار په پوهنتون؟ آیا د دې اړتیا شته چې په نورستان کې هم پوهنتون وي، ۲۰۰ یا ۲۵۰ محصلین وي او د کال ۳۰، ۴۰ یا ۵۰ میلیونه لګښت ولري؟ دا لګښت ولې د ننګرهار پوهنتون د طب برخې ته نه ورکول کېږي؟ دا لګښت ولې د کابل پوهنتون په برخه کې نه مصرفېږي؟ که یو څوک دا وایي چې موږ د کابل، ننګرهار او هرات پوهنتونونو لپاره بودیجه لرو؛ خو آیا دا بودیجه کافي ده؟ بل په داسې ځای کې ولې مصرفېږي هغه که د معاشاتو برخه ده نو همدغه معاشات راواخلئ، دغه استادان چې د طب په برخه کې تدریس کوي، د AI او مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې تدریس کوي، هغوی ته معاشات او امکانات ور زیات کړئ.

یعني تاسو که په دې برخه کې احصائیه او معلومات وکړئ: زموږ نفوس د پاکستان له نفوس نه کم دی، خو پوهنتونونه زموږ زیات دي. دغه کثرت زموږ کیفیت خراب کړی که کیفیت یې ساتلی دی؟

موږ په طبي برخه کې ۵۴ یا ۵٦ خصوصي پوهنتونونه لرو. په طبي برخه کې د کال له لس زره نه زیات محصلین لرو، خو بېرته د سپتاژ او تخصص پروګرامونو لپاره موږ د زر نفرو ظرفیت هم نه لرو، بیا ولې دومره محصلین طب ته ورکوو؟

دغه د بېکارۍ وجه دا نه ده چې دلته کار نشته اصلاً دلته د تعلیم، تخنیک او مسلک په برخه کې تحقیق نه دی شوی. تخنیکي او مسلکي ادارې، یا د کار او ټولنیزو چارو وزارتونه اوس هم موږ ته د موبایل او د خیاطۍ په برخه کې خلک روزي، اوس هم موږ ته د برق په برخه کې خلک روزي، آیا زموږ په کلیو کې خیاطان کم دي؟ زموږ په کلیو کې برقیان کم دي؟  زموږ په کلیو، بازارونو کې د ټلویزیون او موبایل جوړوونکي کم دي؟

تاسو لاړ شئ زموږ د صنعت برخه وګورئ. د صنعت په برخه کې چې مستریان او سرکرده خلک دي هغوی یا پنجابیان دي یا ایرانیان دي. معاش یې ۵۰ زره ، ٦۰ زره، ۸۰ زره تر یو نیم لک افغانیو پورې دی. خو زموږ افغانی په لس زره یا ۸ زره افغانیو باندې هلته کار کوي. نو ځکه دلته تخنیکي او مسلکي ادارې ته دا مسئولیت راجع دی.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت باید ارقامو ته ونه ګوري. دا خلک چې دوی فارغه کوي، په بازار کې ورته ضرورت شته که نشته؟ او ضرورت چاته شته؟ په افغانستان کې تقریباً له ٦ زره نه زیاتې کارخونې دي. زه دا یادونه دلته صرف د فرد په حیث نه کوم، ځکه دا اداره، (د کلمات تحقیقاتي اداره) یوه علمي او تحقیقاتي اداره ده. د ارقامو او تحقیقاتو په اساس خبرې کوم.

دغه ٦ زره کارخونې هر کال خپل قالبونه بدلوي. مثلاً یو بوتل دی، دا سږ کال په یو ډیزاین دی، را روان کال په بل ډیزاین دی. د دې قالب په پاکستان او ایران کې جوړېږي. موږ د دې وړتیا هم نه لرو چې صرف د دې قالب جوړ کړو، (حال دا چې) ډېر په اسانۍ او سهولت سره کېږي! دلته مسؤلیت څه شی دی؟ باید هغه مسؤلیت دغه ادارې ته راجع شي.

او ستاسو له طریقه مې دغه غوښتنه ځکه وکړه، چې دغه غوښتنه باید مطرح شي. په داسې شکل که موږ او تاسو د اقتصاد جوړولو او د کار د ظرفیتونو پیدا کول کوو لکه دا روان چې یو، یا مو تقاضا ده او یا د خلکو فکر دا ده، په سلو کلونو کې هم موږ په ځان نه شو بسیا کېدلی. باید په دې برخه کې د تحقیقاتو، او د بازار د اړتیا په اساس باندې هغه که د لوړو زده کړو وزارت مسئولیت دی، که د تخنیکي او مسلکي ادارې مسئولیت دی، که د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسئولیت دی باید په دې برخه کې په احسن شکل سره هغه خپل مسئولیت ادا کړي.

مأخذ: د حریت راډیو له ویډیویي راپور څخه

د شاهي کوټ د معرکې اتل او د مهاجرو مجاهدینو انصار

# شهیـــــــــد
# ملا سیف الرحمن منصور

قاري عبدالستار سعید

ملاسیف الرحمن منصور د شهید مولوي نصرالله منصور زوی په کال ۱۳۴۸ هـ ش کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د سهاکو د سیمې د هیبت خېلو په کلي کې په یوه دینداره او علمي کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې. د سیف الرحمن منصور پلار شهید مولوي نصرالله منصور (چې اصلي او کورنی نوم یې مولوي فضل الرحمن و او وروسته یې په مولوي نصرالله منصور شهرت وموند) له شاهي دور څخه د خپلې سیمې او افغانستان په کچه یو وتلي دیني عالم او سیاسي مبارز و، چې د غزني له نورالمدارس فاروقیه مدرسې څخه فارغ التحصیل او د خدام الفرقان په نامه د دیني علماء کرامو د یوه تنظیم له عالی رتبه مسؤلینو څخه و. مولوي نصرالله منصور له افغانستان شموله سیاسي او دعوتي هلو ځلو سره په څنګ کې د دیني علومو تدریس هم کاوو، او په خپل کلي (هیبت خېلو) کې یې د دیني علومو د تدریس حجره درلوده .

سیف الرحمن منصور د مولوي نصرالله منصور دوهم زوی و چې په یوه درانه علمي کاله کې وزېږېد، دخپل عالم او مجاهد پلار په سیوري کې یې وده وکړه، او له کوچنیوالي څخه په دیني او جهادي روحیه وروزل شو .

## د زدکړو سلسله

ملاسیف الرحمن منصور خپلې ابتدائي زده کړې په خپل پلرني ټاټوبي کې له خپل پلار مولوی نصرالله منصور څخه پیل کړې. وراندې وویل شول، چې شهید مولوي نصرالله منصور د زرمت په هیبت خېلو کې مدرسه درلوده، ملاسیف الرحمن منصور ابتدایي زده کړې همدلته پیل کړې. کله چې د داودخان دواکمنۍ په وخت کې په افغانستان کې په سیاسي فعالیتونو باندې بندیز ولګول شو، او په ځانګړې ډول په سیاسي مبارزو علماء کرامو باندې دژوند کړۍ تنګه شوه، مولوي نصرالله منصور هم د حالاتو د سختیدو له امله د داودخان د واکمنۍ په دوهم کال خپل کور او عیال له خپل کلي (هیبت خېلو) څخه د زرمت ولسوالۍ غرنۍ سیمې (شاهیکوټ) ته نقل کړ، او هلته یې امامت، تدریس او سیاسي اصلاحي فعالیت پیل کړ. سیف الرحمن دلته هم ابتدایي دیني زده کړې تعقیبولې خو وروسته د حالاتو د ډیرو سختیدو له امله مولوي نصرالله منصور صاحب خپل کور بیرته خپل کلي ته واستاوو او خپله یې د ډیورنډ کرښې بلې غاړې (د شمالي وزیرستان میرانشاه ته) هجرت وکړ، وروسته کله چې په افغانستان کې کمونیستان واک ته ورسیدل او مهاجرت لړۍ پیل شوه، سیف الرحمن منصور هم له خپلې کورنۍ سره لومړی میرانشاه او بیا پیښور ته ولیږدیدل. ملاسیف الرحمن منصور څه موده د پښتونخوا د ډیره اسمعیل خان په کلاچي نومې سیمه کې په جامعه نجم المدارس او په ګوجرانواله کې په جامعه عربیه کې زده کړې ترسره کړې، او وروسته یې د ډیرې مودې لپاره د پیښور په بخشي پل او باړه کې په الجامعة نورالمدارس فاروقیه کې زده کړو ته دوام ورکړ . په دې مدرسه کې یې نهم صنف ولوست، او وروسته په جهاد کې دمصروفیت له امله د خپلو زده کړو په پوره کولو ونه توانېد. په مروجو دیني زده کړو سربیره ملاسیف الرحمن منصور د (اسلامي سیاست او اسلامي دعوت) په نامه هغه ځانګړې کورسونه هم ویلي و چې د شهید مولوي نصرالله منصور لخوا به د مدرسو د کلنیو رخصتیو په مهال طالبانو ته ویل کیدل. په دې سربیره ملاسیف الرحمن منصور حربي او نظامي درسونه هم په ښوښځله لوستي و. دروس ضد جهاد په مهال د جهادي اعداد په یوه مرکز کې ملاسیف الرحمن منصور له ډیرو نورو ملګرو سره په سپکو وسلو سربیره د څو ډوله توغندیو لکه (میلان، SPG-۹، ۸۲ ملي متري توپ او RPG راکټ) ځانګړې مسلکي زدکړې ترسره کړې، دغه راز دکمونیزم ضد جهاد په وروستیو کلونو کې یې په پکتیا کې د ټانک، توپچي او نظامي نقشو په برخه کې هم عملي زده کړې وکړې، د نوموړي جهادي ملګري وایي، ملاسیف الرحمن منصور په دې سربیره چې یو ماهر ټانکس و، په جګړه کې په استعمالیدونکو ټولو سپکو او درنو وسلو کې یې مهارت درلود او په مؤثره توګه یې استعمالولای شوای .

## د طریقت بیعت

ملاسیف الرحمن منصور لکه ځنګه چې له کفارو او د هغوی له پیروانو سره د وسلوالې مبارزې د ډګر مجاهد و همدارنګه یې له نفس اماره او شیطان سره د جهاد لاره هم په پوره میرانه پاللــه. څرنګه چې د ده پلار شهید مولوي نصرالله منصور د کابل د قلعه جواد له حضرت ضیاء المشائخ محمد ابراهیم مجددي (رحمه الله) سره نږدې تعلق او بیعت درلود، ملاسیف الرحمن منصور هم دنقشبندیه مجددیه طریقې وتلی صوفي او سالک و .

ملاسیف الرحمن منصور په پیل کې له مرحوم خلیفه صاحب فضل الدین (مشهور د ارغندی په خلیفه صاحب) سره بیعت کړی و. او د هغه له وفات وروسته یې د زرمت له خلیفه صاحب دین محمد او د وردګو د جغتو له خلیفه صاحب احمدضیاء سره همیشنی تعلق او رابطه درلوده .

د تصوف د لارې د یوه لاروي په توګه ملاسیف الرحمن منصور په شخصي توګه خورا تقوی لرونکی و، چې د جهادي مشرتوب په مهال یې په ملګرو همیشه ځینې فوق العاده معمولات مقررول، د بیلګې په توګه د پنځه لمونځونو له جماعت وروسته پنځه سورتونه لوستل (سهار سورت یاسین، ماسپښین سورت الفتح، مازدیګر سورت النباء، ماښام سورت نوح، ماخستن سورت الملک) دغه راز سهار له لمانځه وروسته دخوب په ځای وظیفه یا سپورت کول او مازدیګر (ختم خواجه ګان) کول هم د ملاسیف الرحمن منصور له معمولاتو څخه و. ملا سیف الرحمن منصور د ژوند په وروستیو کې د تصوف مروج مراحل پای ته رسولي وو، د نومړي جهادي ملګري په بیلابیلو جهادي مراحلو کې د ده د کراماتو کیسې کوي، چې ترټولو ښکاره کرامت یې دشهادت په ورځ لیدل شوی و.

## د کمونیزم ضد جهاد او په اسلامي امارت کې یې خدمات

ملاسیف الرحمن منصور له ماشومتوبه په جهادي روحیه روزل شوی او له جهادي عشق او جذبې ډک زړه یې درلود، د نومړي د کشرتوب یو ملګری (قاري اکمل) وایي: هغه وخت چې د ملاسیف الرحمن منصور عمر یوازې ۱۲ کاله و او د ډیره اسمعیل خان په کلاچي نومې سیمه کې یې درس وایه، کله به چې په مدرسه کې ختم کیده، یا به دعا کیدله، ده به د دعا په وخت سخت ژړل او بې دریغه اوښکې به یې تویولې، قاري اکمل وایي: یوه ورځ مې ترې وپوښتل، ولې داسې ژاړې؟ ملاسیف الرحمن په ځواب کې راته وویل (ګوره مورږ دلته په ارام په مدرسه کښي ناست یود افغانستان په غرونوکې به څومره مجاهدین نن بیا په شهادت رسیدلي وي، الله تعالی دي ماته ځواني په نصیب کړي چې د مقدس جهاد لپاره زه هم دمجاهدینو په صفونوکښې وردننه شم د الله تعالی په لار کې وجنګیږم او د شهادت مقام مې په نصیب شي)

د همدې جهادي فطري مینې له امله و چې ملاسیف الرحمن منصور له تاندې ځوانی بیا د ژوند تر وروستی شیبې پورې ټول ژوند په جهادي هلوځلو کې تېر کړ. نومړي ۱۶ کلن و چې په لومړي ځل یې په ننګرهار ولایت کې د روسانو او د هغوی د مزدورانو په خلاف په جهادي عملیاتو کې برخه واخیسته، چې په دې لومړي جهادي سفر کې ټپي هم شو، وروسته یې دخوست په ولایت کې هم په جهادي عملیاتوکې ګډون درلود، دغه راز یې په ۱۹۸۷ ــــ ۱۹۸۹ کلونو کې دپکتیا ولایت په زرمت ولسوالی کې په بیلابیلو جهادي تعرضونو کې شمولیت درلود، چې په دې کلونو کې هم د ګردیز په دفاعي پوستو دیوه تعرض په مهال ټپي شو، په ۱۹۸۹ کال کې چې کمونیستو ګلم جم ملیشو د زرمت په ولسوالی برید وکړ، په دې وخت کې ملاسیف الرحمن منصور دیوه جهادي ګروپ مشري په غاړه درلوده .

کله چې د کمونیزم ضد اسلامي جهاد بریالی شو، ملا سیف الرحمن منصور د پکتیا په ګردیز کې په خپل کور کې اوسېده، په ۲۰/۱۱/۱۳۷۱ هــ ش نیټه کله چې مولوي نصرالله منصور په یوه ناځوانمردانه برید کې په شهادت ورسید، سیف الرحمن منصور ته دخپل کور په چارو سربیره د خپلو جهادي ملګرو د سمبالښت اومشرتوب چارې هم ورله غاړې شوې. په دې موده کې نومړی دپکتیا په ګردیز کې د ۱۵ مې زغره والې لواء قومندان او د شهید منصور صاحب دجهادي ملګرو له مشرانو څخه و، چې ورځنی مصروفیت یې د خپلې ترواک لاندې سیمې د امنیت ساتل او د جهادي ملګرو اعداد او نظامي تربیه وه. په دې موده کې نومړی په ګردیز کې د هغه کسانو په مقابل کې په کلکه ودرید چې غوښتل یې دښار امنیت اخلال کړي، چې له همداسې کسانو سره په یوه برخورد کې یو ورځ د چپ لاس په ورغوي ټپي هم شو، او درې ګوتې یې له کاره ولوېدې .

کله چې د عامه فساد په مقابل کې له کندهار څخه د طالبانو او دیني علماء کرامو تحریک پیل شو، ملاسیف الرحمن منصور او دده

ملګرو (چې زیاتره یې طالبان وو) دیوه هیئت له لېږلو وروسته سمدستي ترې ملاتړ اعلان کړ. د ده ځیني ملګري د یوه کاروان په شکل دطالبانو سره د پیوستون په خاطر د کندهار په خوا وخوځېدل، دوی دښرنې او شلګر له لارې تر مقر پورې ورسیدل، چې دا وخت د طالبانو تحریک هم همدې سیمې ته راورسید او دوی ورسره یوځای شول او په ګډه یې د غزني د ښار په لور حرکت پیل کړ، کله چې په غزني ښار برید کیده خپله ملاسیف الرحمن منصور د پکتیا له خوا له څوټانګونو او مسلحو ملګرو سره په عملیاتو کې برخه واخیسته، دغزني په یونټ باندې عملیات د اسلامي امارت په پلوی د نوموړي لومړني جهادي عملیات وو. د غزني له نیول کیدو وروسته داسلامي تحریک د مشرانو لخوا ملاسیف الرحمن منصور او د ده ملګرو ته د ټانکونو او نورو زرهي او توپچي وسایطو مسؤلیت وسپارل شو، څرنګه چې د منصور صاحب ملګرو له وړاندې په دې برخه کې زده کړې درلودې، دوی په غزني کې موجود ټانکونو هم سمبال کړل، دغه راز یې له کندهار ښار څخه هم څو ټانکونه راوستل، له دې وروسته ملاسیف الرحمن منصور په میدان ښار، لوګر او چهاراسیاب کې داسلامي تحریک په پرمختیايي عملیاتو کې برخه واخیسته، د کابل له فتحې څه موده وړاندې د پکتیکا په اورګون کې چې د (پرې) په نامه دیوه جګړه مار په خلاف عملیات ترسره شول، هم ګډون یې په کې درلود چې ددې عملیاتو وروسته یې دفتحې په هغه کاروان کې دتحریک د نورو مشرانو ترڅنګ د یوه ډلګۍ مشر په توګه سفر پیل کړ، چې له پکتیا څخه روان شو، ځاځي، سپینه شګه، ازره او حصارک یې تصفیه کړل، جلال اباد یې ونیو او وروسته یې کابل فتحه او احمدشاه مسعود یې د پنجشیر تر (دالان سنګ) تنګي پورې په شا وتمباوو.

د کابل له فتحې وروسته ملاسیف الرحمن منصور د قرغي داتمې فرقې دمعاون او د ټانک کنډک د مسؤل په صفت دنده پیل کړه، نوموړی بیا په افغانستان باندې د صلیبیانو د برید ترمهاله په همدې دنده او د کابل د شمال په دفاعي خطوطو کې پاته شو، چې په دې ترڅ کې یې ډیره موده د شکردرې دلومړنۍ جنګي کربښې دمسؤل په صفت هم دنده ترسره کړه .

په شمالي کې د اسلامي امارت په څو واریزو پرمختګونو کې په ټولو کې ملاسیف الرحمن شرکت درلود، چې د نوموړي دوروڼو له جملې ملا منصور الرحمن منصور هم په همدې استقامت په شهادت ورسید، کله چې په ۱۹۹۷ میلادي کال کې داسلامي امارت مجاهدین دسالنګ له تونل څخه ووتل، ملاسیف الرحمن منصور او ملګري یې هم د دې کاروان برخوال وو، د دې عملیاتو په مهال نوموړی پلخمري ته نږدې د رباټک په سیمه کې په نس کې په مرمۍ ولګېد، او سخت ټپي شو، چې دهلیکوفتر په واسطه دجګړې له سیمې کابل ته انتقال کړای شو .

تردې وروسته د کابل په شکردره کې د مسؤلیت په مهال دهاوان په چره دنوموړي ښۍ لاس سخت زخمي شو، دښي لاس دځنګلې هډوکی (مفصل) یې له منځه لاړ او لاس یې په بشپړ دول له کاره ولوېد، تردې ټپ وروسته د نوموړي په دواړو لاسونو کې یوازې د چپ لاس دوو کوچنیو ګوتو حرکت کاوو، نوریې د بیا بیا زخمونه له وجې لاسونه له کاره لویدلي وو، په شمالي باندې دوروستیو تهاجمي عملیاتو په مهال کله چې ملا سیف الرحمن منصور له خپلو ملګرو سره د دښمن له خوا محاصره شو، نو دنجات د یوازیني لوري په توګه یې د غوربند په خوا پرمختګ وکړ، په دې توګه نوموړی له ډیرو مجاهدینو سره یوځای د دښمن له ضرر څخه په امن شول، په دې عملیاتو کې هم نوموړی په سر باندې ټپي شو، خو دا ځل یې ټپ ډیر ژور نه و.

کله چې په افغانستان امریکا برید وکړ، ملا سیف الرحمن منصور هم د اسلامي امارت د نورو مجاهدینو سره د شمال په دفاعي خطوطو کې تر وروستۍ شیبې مقاومت وکړ، کله چې داسلامي امارت ځواکونو له کابل څخه عقب نشیني وکړه ملا سیف الرحمن منصور هم له خپلو څو تنو ملګرو سره لوګر ته راغی، په دې وخت کې نوموړي داسلامي امارت نورو مسؤلینو او جهادي ملګرو ته مشوره ورکړه، چې دشمالي ټلوالې د پرمختګ دمخنیوي لپاره دې په لوګر یا د تېرې په کنډو کې دفاعي خط جوړ شي، خو څنګه چې دامریکایانو لخوا سخت بمبار روان و وروسته مصلحت دا وبلل شو، چې د جبهه یې مقاومت په ځای دې چریکي جنګونه پیل شي، په دې توګه ملا سیف الرحمن منصور له خپلو ملګرو سره خپلې سیمې (د پکتیا زرمت) ته راغی، په همدې وخت کې سره له د چې حالات نامساعد وو نوموړي د عالیقدر امیرالمؤمنین د لیدلو او هدایت ترلاسه کولو په نیت کندهار ته سفر وکړ، د دې سفر په مهال نوموړي د عالیقدر امیرالمؤمنین په لیدلو بریالی نه شو، خو د مخابرې له لارې یې دا پیغام او هدایت ترې ترلاسه کړ، چې (ټولو مجاهدینو ته ووایئ چې غرونو ته وخیږي، او

په هر ډول چې ممکنه وي دامریکایانو په خلاف جهاد ته ادامه ورکړئ) له کندهار څخه له راګرځیدو وروسته نوموړي بې له ځنډه د شاهیکوټ په غره کې دجهادي قرارګاه په جوړولو او چریکي جهاد په پیلولو شروع وکړه

## د مهاجرو مجاهدینو برخلیک او د شاهیکوټ جګړه

ملاسیف الرحمن منصور داسلامي امارت د واکمنۍ په مهال هم له مهاجرو مجاهدینو سره ځانګړی تعلق او خواخوږي درلوده، نوموړي به ملګري همیشه په دې مامورول چې د دې مهاجرینو سره ښه او له تبعیضه پاکه ګوزاره وکړي ده به ویل (موږ ته کیدای شي کله ناکله دخاورې یاقدرت سوچ راولویږي خو دې خلکو یوازې د الله تعالی د دین په خاطر خپل وطنونه پرې ایښي او موږ ته یې پنا راوړې) د کابل له سقوط وروسته د مهاجرو مجاهدینو په سلګونو کورنۍ هم له کابل څخه د پکتیا په خوا وکوچېدې، سره له دې چې له دوی سره لویان او نارینه هم وو، خو زیاتره یې بې سرپرسته تورسرې او ماشومان وو چې مشران یې یا پخوا شهیدان شوي وو او یا د هیواد په شمال کې بند پاته وو.

په دوی کې پیژندل شوې څیرې قاري محمدطاهر فاروق، ابوخباب المصري، عبدالرحمن کنیډي، شیخ ابوعلي، ابوالليث الليبي، سیف العدل، ابومصعب السوري، زیدالخیر، ابومحمد او عبدالهادي وو، چې ورسره د عربي، شیشاني، ازبکي، او ترکستاني مهاجرینو په سلګونو مجاهدین او کورنۍ وې. ملاسیف الرحمن منصور دخپل یوه ملګري (د جنوبي وزیرستان اوسیدونکي شهیدنیک محمد) سره په ګډه د دغو مهاجرینو د خوندي کولو او نجات لپاره داسې ترتیب جوړ کړ، چې په پایله کې یې په زرګونو مجاهدین او مسلمانې مهاجرې تورسرې د امریکایي وحشي یرغلګرو له ضرر څخه په امن او زیاتره یې خپلو اصلي هیوادونو ته ورسول شوې، دوی په لومړي قدم کې په زرمت او د پکتیا او پکتیکا په نورو سیمو کې د ولسي افغانانو په منځ کې د دې مهاجرینو د خوندي کولو کوښښ وکړ، شهید نیک محمد په وزیرستان کې د دوی دورتګ لپاره زمینه برابره او ځایونه پیدا کړل، او له هغه ځایه یې ترخپلو هیوادونوپورې د دوی درسولو پروګرام عملي کړ. ددې مهاجرینو موټران او نور د خرڅلاو وړ وسائل په نغدو پیسو خرخ کړای شول او دوی ته یې پیسې تسلیم شوې وروسته د یوه پټ او منظم پروګرام په ترڅ کې د دې مجاهدینو تورسرې او ماشومان وزیرستان او له هغه ځایه د کراچۍ ترساحله رسول کیدل، او له هغه ځایه د هوا یا سمندر له لارې خپلو هیوادونو ته ستنیدل، د دې بهیر په پایله کې په سلګونو کورنۍ په ځانګړې توګه د عربو مجاهدینو په عزت سره خپلو اصلي ټاټوبیو ته ورسول شوې .

د مهاجرو مجاهدینو له خوندي کولو او لېږد سره سره ملاسیف الرحمن منصور او ملګرې یې دامریکایانو په خلاف دمنظم مقاومت جاري ساتلو او لومړنیو امادګیو ته هم متوجه وو، دوی د همدې لپاره د زرمت ولسوالۍ په جنوب ختیځ کې د شاهیکوټ په غرونو کې (چیرته چې دروس ضد جهاد په مهال دمجاهدینو یوه قوي جبهه موجوده وه) دیوه جهادي مرکز په جوړولو پیل وکړ، دې مرکز ته که له یوې خوا له ګردیز اونورو سیمو څخه سپکې او درنې وسلې او مهمات انتقال شول، له بلې خوا د شاهیکوټ درې په ټولو خواوو کې دمحکمو مورچلو او سنګرونو دجوړولو او د دافع هوا په شمول دبیلابیلو وسلو نصبول هم روان وو.

مجاهدینو د ۲۰۰۱ لومړي کال له دسمبر څخه د ۲۰۰۲ کال ترمارچ پورې په خورا سختې یخنۍ او پیچلو شرایطو کې د دې مرکز دجوړولو او استحکام لپاره کار کاوو، دا داسې وخت و چې امریکایي یرغلګر د ځمکې او هوا له لارې د مجاهدینو په تلاش کې وو، او افغان مجاهد اولس په ټولیزه توګه له سخت عدم اطمنان او ناهیلۍ سره لاس او ګریوان و.

ملاسیف الرحمن منصور د ناهیلیو په دې سخت او امتحاني پړاو کې یوازې په الله تعالی باندې توکل وکړ، دحالاتو نامساعدتیا، د وسائلو او ملګرو کموالي او یوازیتوب یې عزم متزلزل نه کړ، او نه یې د جهاد او تعقل د ځینو هغو پخوانیو مدعیانو تبلیغاتو او مخالفت ته توجه وکړه، چې د امریکایانو په مقابل کې د ملا سیف الرحمن منصور وسلوال مقاومت یې لیونتوب او بغاوت باله، ملا سیف الرحمن منصور په خپلو ملګرو او مخالفینو د اتمام حجت لپاره یوه ورځ خپل ټول مخالفین او موافقین د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نږدې په یوه ختین مسجد کې راټول کړل، لومړی یې دهغوی نظریات واوریدل، چې د هرچا نظر جلا و، او وروسته یې په صریحو ټکو ټولو حاضرینو ته وویل (زه که پوره عالم نه یم، خو الحمدلله دومره پوهیږم چې امریکایان متجاوز کافران دي او په مقابل کې یې جهاد فرض عین دی، له بلې خوا د خپل شرعي امیر (عالیقدر امیرالمؤمنین) لخوا هم ماته همداسې هدایت دی، چې د امریکایانو په مقابل کې مسلح جهاد ته ادامه

ورکړم، زه نه غواړم تاسو ته اوږدې خبرې وکړم، د وروستي ځل لپاره درته وایم، که څوک غواړي له موږ سره په جهاد کې ملګرتیا وکړي، نو له موږ سره دې (بیعت بالشهادة) وکړي، موږ له جهاد پرته بله هیڅ لاره نلرو) په شاهیکوټ کې د امریکایانو په خلاف جګړه دملاسیف الرحمن منصور په مشرۍ د شاهیکوټ مجاهدینو پروګرام درلود، چې په دې ستراتیژیکه سیمه کې د یوه محکم سنګر له جوړولو وروسته د هوا له تودېدو سره په هوارو سیمو کې د امریکایانو په خلاف چریکي مقاومت پیل کړي، په دوی کې دپکتیا، پکتیکا او غزني ولایتونو د مجاهدینو سربیره یو شمیر مهاجر مجاهدین چې زیاتره یې د قاري طاهرجان ملګري وو هم وو، چې دټولو مجموعي شمیر تقریبا ۱۰۰ تنو ته رسیده، د ۲۰۰۲ میلادی کال دمارچ په دریمه نیټه امریکایانو دمخکنیو اطلاعاتو له مخې په دې سیمه حمله وکړه، چې ورسره مجاهدینو سخت مقاومت پیل کړ، دې جګړې چې له امریکایي کوماندویانو سره د افغاني مجاهدینو لومړنۍ مخامخ اوږده جګړه وه څه کم دوه اونۍ دوام پیدا کړ، چې په امریکا سربیره د ډنمارک، استرالیا، کاناډا، فرانسې، جرمني او ناروې ځانګړو ځواکونو هم په کې برخه درلوده .

ددې جګړې په مهال مجاهدینو دخورا دقیق پروګرام او طرح ریزۍ له مخې امریکایي دیسانټ ځواکونه په بیا بیا په پیچلو غرنیو سیمو کې راګیر او له منځه یوړل، مجاهدینو چې تقریبا په ټولو حاکمو نقطو یې دافع هوا وسلې نصب کړې او مورچلونه جوړ کړي و، دښمن ته یې موقع ورکوله، چې د دوی تر اور لاندې سیمو کې له چورلکو څخه ځواکونه پیاده کړي، خو کله به چې له دې پیاده شویو عسکرونه چورلکې پورته شوې، مجاهدینو به برید پرې وکړ، او دمجاهدینو دافع هوا به د دښمن چورلکو ته د دې اجازه نه ورکوله، چې خپل په جګړه کې ښکیل عسکر له سیمې وباسي .

امریکایانو چې دې عملیاتو ته یې د اناکونډا (ښامار) نوم ورکړی وو وویل چې دعملیاتو په مهال یې تر لسو زرو ډیر بمونه وروولي دي، چې زهري، کیمیاوي او اکسیجن ختموونکي بمونه هم په کې شامل وو، څرنګه چې د دې جګړې په دریمه ورځ د شاهیکوټ په غرونو درنه وواره وورېده، او دتودوخې درجه د جګړې په سیمه کې ترصفر ښکته وه، نوځکه د دشمن زهري وسلو مجاهدینو ته دپام وړ زیان نه رساوو.

دجګړې له پیل دوه اونۍ وروسته د مارچ په ۱۸ مه په افغانستان کې امریکایي مشر جنرال ټومي فرانکس ددې عملیاتو پای اعلان کړ، نوموړي په رسمي توګه وویل چې په دې عملیاتو کې یې ۲ چورلکې نسکورې شوې، ۸ عسکریې وژل شوي او ۸۲ نور یې ټپیان دي، خو هغه څه چې د دې جګړې برخوالو مجاهدینو د سر په سترګو لیدلي، او یا وروسته د دې جګړې ګډونوالو امریکایي سرتیرو په خپلو خاطرو کې لیکلي، د امریکا تلفات تردې څو چنده زیات ښیي .

د بیلګې په توګه یوامریکایي سرتیری (سارجنټ براون) په شاهیکوټ کې یوازې د لومړۍ ورځې د جګړې کیسه داسې کوي (په لومړۍ ورځ د جګړې له پیل لږ ساعت وروسته زموږ یوه له سرتیرو ډکه چورلکه وویشتل شوه او وغورځیده، چې ځینې سرتیري یې مړه او ځیني ټپیان وو. زه د ژغورنې په ټیم کې وم، چې هڅه مو کوله ټپي سرتیري وژغورو، خو موږ دلویدلي چورلکې ۲۰ مترۍ ته لانه وورسیدلي چې دتوغندیو او سپکو وسلې ډزې راباندې پیل شوې، د ژغورنې د ډلې څلور تنه سرتیري ووژل شول، په دې ورځ زموږ او دښمن ترمنځ جګړې ۱۴ ساعته دوام وکړ، جګړه په دومره نږدې واټن کې وه چې زموږ بریدکوونکي الوتکه له ۵۰۰ پاونډو بمونو سره زموږ په سر تاویدله خو له دې امله ورته د بمبار اجازه نه کیده چې له دښمن سره زموږ دتلفاتو ویره هم وه، وروسته معلومه شوه، چې ۷ تنه امریکایي سرتیري وژل شوي دي) (له افغانستان تروروستي افغانه کتاب ۴ ټوک څخه په لنډیز)

په دې جګړه کې د امریکایانو ګنې چورلکې د مجاهدینو په بریدونو کې نسکورې شوې خو دا چې د جګړې سیمه پراخه وه او په بیلابیلو برخو کې جګړه روانه وه دغه راز امریکایانو هم ټوله هڅه کوله چې تلفات پټ کړي، دقیقا نه شي ویل کیدای چې امریکایانو ته څومره تلفات ورسیدل، خو دا اټکل کیدای شي، چې د غورځولو شویو چورلکو شمیر تر۵ ډېر او د وژل شویو امریکایانو شمیر تر ۱۰۰ تنو زیات وو.

په دې جګړه کې د ۴۰ په شاوخوا کې مجاهدین هم په شهادت ورسیدل، چې دشهیدانو په ډله کې د مجاهدینو مشر ملاسیف الرحمن منصور او مرستیال یې ملا فدا محمد جواد هم وو.

د شاهیکوټ جګړه یوه عادي جګړه نه وه، په دې جګړه کې په لومړي ځل دامریکایي ټیکنالوژۍ او پوځي برترۍ پوښلی ضعف

رابرسیره او د مجاهدینو مورال ورسره خورا لوړ شو، د جګړې له پیل دوه اونۍ وروسته سره له دې چې امریکایانو خپل عملیات پای ته رسیدلي او موفق اعلان کړل، خو د دوی په وړاندې مقاومت په ټول افغانستان کې په یوه نوي روحیه جاري پاته شو.

## دملاسیف الرحمن منصور شهادت

ملا سیف الرحمن منصور دبل هر رښتیني مجاهد غوندې له پیله د شهادت تمنا لرله، او په ټول زړه ورته اماده و، د شاهیکوټ د جګړې په مهال نوموړی د جګړې له پیل څخه د مخابرې له لارې له ټولو استقامتونو او مجاهدینو سره په تماس کې و او د (ثابت) په مستعار نامه یې دجګړې وضعیت کنټرولاوو، دجګړې په مهال نوموړی په بیا بیا دامریکایانو ترسختو بریدونو او بمبار لاندې راغی، خو الله تعالی ترې وساته، تر څو یې دجګړې په اوومه ورځ په ۱۹/۱۲/۱۳۸۰ هــ ش نیټه چې د ۱۰/۳/۲۰۰۲ میلادي سره سمون خوري د شهادت ارمان پوره شو.

د نوموړي کشر ورور ملا عبدالرحمن منصور چې د همدې جګړې برخوال و په دې اړه دسترګو لیدلی حال داسې بیانوي (موږ ته دیوه بل مجاهد شهید جواد صاحب د شهادت خبر راورسید، او د هغه په خو ا ور روان وو چې جسد یې ترلاسه کړو، مازدیګر مهال و د شاهیکوټ درې په جنوبي څنډه کې د مارزکو له کلي لاندې د خوړ په غاړه روان وو، چې یو ډېر خوږ تورږم (بوی) مو حس کړ، ملګري د همدې خواږه بوی په خوا روان شوو، نږدې شل متره لرې، څو شهید جسدونه پراته وو، او شاوخوا د بمبار نښې وې، ما چې وکتل د قومندان صاحب (ملاسیف الرحمن) د خړرنګه ملتانۍ لونګۍ ټوټې مې وپیژندې چې په شاوخوا ونو کې بندې وې، جسدونه مو وپلټل د یوه جسد خاص خوشبویي تله، مخونه یې له منځه تللي و، خو ما چې وکوت د چپ لاس د ورغوي او د نس له پخوانیو پرهارونو مې وپیژانده، چې همدا جسد دقومندان صاحب دی، څلور جسدونه نور هم ورسره په خواکې وو، چې یوه د فضل محمد په نامه د زرمت ولسوالۍ د اوسیدونکي یوه مجاهد و، او درې نور مهاجر مجاهدین وو، په همدې ساعت د دې اجسادو په تجهیز او تدفین بوخت شوو، د قومندان صاحب شهید جسد مو په همدې شپه زرمت ته راکوز کړ، او د څینو رازدارو علماءکرامو په حضور کې مو له جنازې وروسته خاورته وسپاره) د شهیدملاسیف الرحمن منصور د شهادت خبر د عامو مجاهدینو دروحیاتو دلوړساتلو لپاره په خورا رازدارۍ پټ وساتل شو، تردې چې امریکایي استخباراتو هم د کلونو له تیریدو سره سره دغه راز معلوم نه کړای شو، او له شهادت څوکاله وروسته یې هم په سیمه کې دده تصویرونه له فضاء څخه شیندل، او په سر یې انعام مقرراوو، چې دا مسئله د امریکایي استخباراتو د ضعف یو څرګند مثال بلل کیدای شي .

## دشهید ملاسیف الرحمن منصور دتقوی او دیانت څینې خاطرې

قومندان سیف الرحمن منصور الله تعالی له کوچنیوالي څخه په ښو اخلاقو، تقوی او دیانت باندې ښایسته کړی و. دلته که دنوموړي دبیلابیلو حسنه اخلاقو په اړه خاطرې په تفصیل را اخلو ښایي کیسه ډیره اوږده شي، نو ځکه به په څو واقعو کفایت وکړو .

**له عبادت او تهجد سره مینه**

د نوموړي یو پخوانی د مدرسې ملګری (قاري اکمل) د ده د هغه مهال کیسه کوي چې ملا سیف الرحمن ۱۳ کلن و(یوه شپه دګوجرانوالې په مدرسه عربیه کې د اوسیدو په مهال چې ډیر د یخ موسم و، د شپې راویښ شوم، ومې کتل، سیف الرحمن په خپل ځای کې نشته، اندیښنه مې شوه، بهر ووتم هرځای مې وکوت، خو نه و، اخر د مدرسې بام ته وختلم، ګورم چې ملاسیف الرحمن یوازې یو کمیس اغوستی او په دې سخت یخ کې د تهجد په لمانځه ولاړ دی، زه یې هم ترشا غلی ودریدلم، د تهجد لمونځ یې خلاص کړاو بیا یې په دعا پیل وکړ، په دعا کې په ژړا شو، او د دعا الفاظ ترې په زوره شول، الله تعالی یې په داسې الفاظو مخاطباوو لکه مخامخ چې الله تعالی ویني او زارۍ ورته کوي، د ژړا او دعا دې حالت یې بیخي ترډیره دوام وکړ، اخر زه له یخ نه سخت په تنګ شوم بیرته کوټې ته راغلم، خو له صبح صادق نه لږ مخکې یوه شوم چې ملاسیف الرحمن بیرته خپل ځای ته راغی، ماپوښتنه ترې وکړه چیرې تللی وې ده یوازې دا راته وویل (زړه مې لږ ډک و تش مې کړ)

دنوموړي یوبل ملګری مفتي فیض محمد صاحب او څیني نور ملګري یې هم وایي، چې دشپې عبادت د ملا سیف الرحمن له همیشنیو عاداتو څخه وو، چې د تعلم، جهاد او حتی د زخمیتوب په حالت کې یې په هسپتال کې هم نه قضاء کاوو.

**تقوی او حق ګویي**

شهید ملا سیف الرحمن منصور به د خپلې شخصي تقوا ترڅنګ خپلو ملګروته هم تل دتقوا توصیه کوله او ویل به یې ګورئ دا تقوا ډېره سخته نده فقط یواځې خپل نفس ترېښنو لاندې کړئ وروسته تقوا اختیارول آسانه کار ده. مفتي فیض محمد وایي: دنوي ځوانۍ په مهال یو وخت زه ملاسیف الرحمن منصور د ده له والد شهید مولوي نصرالله منصور سره د چا کره په میلمستیا لاړو، هلته ډېر خلک راغلي وو، خو ملاسیف الرحمن منصور چې کله په دې پوه شو، چې کوربنو تردې پخوا غیرشرعي مالي کاروبار کاوو، د ډوډۍ په مهال ملاسیف الرحمن منصور له ډوډۍ نه لاس ونیو، او له هرڅومره ټینګارسره یې څکه هم پرې ونه کړه، زموږ داګومان شو چې روژه به یې وي، خو چې خپل ځای ته راغلو ده ډوډۍ وغوښته، دغه راز یې خپل پلار شهید مولوي نصرالله منصور صاحب ته وویل، چې ولې د داسې خلکو میلمستیا ته ځې، چې ډوډۍ یې حلاله نه وي، خو هغه په ځواب کې ورته وویل چې دا خلک اوس د مجاهدینو خواخوږي دي، اوس یې ګټه پاکه ده، نو ځکه یې ډوډۍ خوړل کوم شرعي حرج نه لري .

**له بیت المال سره احتیاط**

د تحریک په مهال د دوهم ځل زخمي کیدو نه وروسته، چې دلاس هډوکی یې له منځه لاړ، ملا سیف الرحمن منصور په کندهار کې د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ملاقات ته لاړ، ملا صاحب ورته وویل، چې د لاس د علاج لپاره به دې خارج ته واستاوو، خو ده په ځواب کې ورته وویل چې زه یوځل له وتلي جراح (موسی وردګ) سره مشوره کوم، چې که د خارج د علاج په واسطه زما لاس د دې جوګه کیږي، چې وسله پرې وچلوم، نو لاړ به شم، کنه نو ولې هسې د بیت المال پیسې خرچ کړم، ډاکټر موسی وردګ ده ته وویل چې که هرڅول علاج وکړي، په لاس کې به دې یوازې یوڅه حرکت پیدا شي، نور د دې وړ نه شي کیدلای چې بیا وسله پرې وکاروې، له همدې امله نوموړی له دې معالجې او سفر څخه منصرف شو .

دغه راز د ده یوه ملګری (قاري حبیب) وایي ملاسیف الرحمن منصور د تحریک په مهال د خپل ورور په واده کې شرکت ونه کړ، کله مې چې پوښتنه ترې وکړه، نو اول یې نورې بهانې کولې خو اخر یې اصلي خبره راته وکړه، او راته ویې ویل (ما دا فکر وکړ، چې که د دې واده په وخت کې له خپل موټر سره کورته لاړ شم، نو د واده په وخت کې ضرور د خپلوانو د وړلو او راوړلو لپاره دموټر ضرورت پیښیږي، او داد بیت المال موټر ده چې زه نه غواړم په شخصي ژوند کې یې ا ستعمال کړم.

**دشریعت په تعمیل ټینګار او په دې برخه کې اندېوالي نه پالل**

د امارت په مهال د زرمت ولسوال چې یو مشهور مولوي او د ملاسیف الرحمن منصور له خورا نږدې او اوږد مهالو ملګرو څخه و دغه راز د همدې سیمې دوه تنه پیژندل شوي، او پیسه دار خلک چې له دوی سره یې ډېر کومکونه کړي وو، کله چې په یوه مسئله کې د رشوت خبره پرې ثابته شوه، ملا سیف الرحمن منصور دوی ټول د کابل په قرغه کې خپلې قرارګاه ته وروغوښتل له هغه ځایه یې، په خپل موټر کې واچول، او نظامي محکمې ته یې وسپارل، چې بیا تر پایه بندیان وو، په دې کارسره نوموړي ثابته کړه، چې د شریعت او الهي قانون په تعمیل کې هیڅ ډول خپلوي، ملګرتیا او نور ملحوظات ورته د اهمیت وړ نه دي .

**له جهاد سره مینه**

قاري حبیب وایي د کمونیزم ضد جهاد په مهال د ملاسیف الرحمن منصور د واده مراسم وو او دی په یوه جهادي مرکز کې په نظامي تعلیم بوخت وو پلار یې احوال ورکړ، چې د واده په شپو کې کورته راشي، خو دی د جهاد شوق په مخه کړی وو اخر یې پلار مولوي نصرالله منصور خپله په موټر کې د تعلیم ځای ته ورغی او له لاسه یې راووست، چې تر کوره یې په موټر کې هم په دې ټینګار کاوو، چې باید جهادي تعلیم وکړم .

**له شهادت سره شوق**

مولوي ذاکر الله ذاکري وایي، دکمونیزم ضد جهاد په مهال د ګردیز په دفاعي پوستو د تعرض په مهال یې په یاد دي چې ملا سیف الرحمن منصور د تعرض له پیل نه وړاندې د شهادت په هیله خپله زنه په خپله وترله، خو په دې جګړه کې دی شهید نه بلکې زخمي شو.

## اولادونه

دشهید ملا سیف الرحمن منصور څلور اولادونه (چې څلور واړه زامن دي) ترشا پرې ایښي، چې همدا اوس په دیني زده کړو بوخت دي، الله تعالی ته سوال کوو، چې د شهید قومندان صاحب برکات په دوی باندې کیږدي، ترڅو همداسې د دین او جهاد سرلوړي اتلان ترې جوړ شي .

امین یارب العلمین

# هدف سپېڅلی، مور پر لاره مقدسه روان

ښې مو تناکې خو بیا هم تر خپله وسه روان
هدف سپېڅلی، مور پر لاره مقدسه روان

د بوذري فقر له خونده چې خبر شي سړی
د عشق په لاره وي مدام بې بندوبسه روان

د ژوند له شوره داسې ځو د شهادت تر کوره
لکه بندي مارغه هوا ته له قفسه روان

یا جانان ناست دی یا هم تللی دی له دغه ځایه
خوږ عنبري وږم د زلفو له مجلسه روان

چوپه چوپتیا، د اوبو ژۍ په سر رنځوره سپوږمۍ
زه وم شبګیر، خوب و له سترګو د نرګسه روان

زه که هر څو ومه غریب شکر بې ننګه نه وم
د جنګ میدان ته وم بې تورې او بې اسه روان

«راشده» ما د خیال له بامه دې جهان ته کتل
د آرمانونو یو کاروان و بې جرسه روان

راشد کامران

****

بوذري فقر: د حضرت ابوذر غفاري رضي الله تعالی عنه ساده او زاهدانه ژوند ته اشاره ده.



مورږ به د خپل دین او خپلو مقدساتو (د دفاع په لاره کې) په هېڅ شي کنجوسي ونکړو او نه به (په دې لاره کې) کومه فیصله وځنډوو مهمه نده چې قېمت يې څشی کیږي...!

د شهید یحیی سنوار رحمه الله
له ویډیویي بیان څخه



# بُت ښکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه اللّٰه په یاد کې